احمد شاه ((اوریا)) وحدت یار
Ahmad Shah Wahdat Yar

منبع الجهاد

علمي، جهادي مياشتنۍ خپرونه

دقوماندانانو دسرتاسري شورا
په فعاليدو دجهاد صفونه
ترډيره حده منظم شوي
اوپردښمن دګډو اوسترو حملو
لاري چاري هواري شويدي .
الحاج حقاني

آيا افغان قضيي
اهميت بايللې...؟

جهاد دشعراوادب
په پلوشو کي

جهان درماهي که گذشت



الهي فرمان

اونه دی گرځولی الله تعالی داکومك مگر زیری
تاسو لره اوددي لپاره چی ستاسو زړونه پری ډاډه
شي نشته کومك مگر دخدای (ج) له جانبه دی –
هغه خدای چی قوي اودحکمت خاوند دی.

(آل عمران سورة ١٢٦ آیه)

کمپوزر: احمد ضیاً«ذهین بابري »

احمد شاه ((اوریا)) وحدت یار
Ahmad Shah Vahdat Yar

منبع الجهاد

علمی، جهادي میاشتنی خپرونه

مؤسسس: الحاج مولانا جلال الدین «حقاني»
دتأسیس کال: ۱۳٦۸هـ ش، ۱٤۰۹هـ ق

دوهم کال، نـهمه گڼه، د۱۳٦۹ هـ ش کب، د۱٤۱۱ هـ ق شعبان المعظم

په دي گڼه کي

شمیر	عنوان	مخ
۱:-	دفتحي اونصرت اورحمت ... (سرمقاله)......	(۲)
۲:-	ایا افغان قضیي اهمیت ... (تبصره)......	(٤)
۳:-	ملکوتي غږونه	(۷)
٤:-	دشهادت اسلامي فلسفه	(۱۰)
٥:-	داستعمار غولوونکي څیري	(۱۳)
٦:-	زاویه جدید اما دورنماي تاریك	(۱٦)
۷:-	دصلیبیانو دظلمونو اووحشتونو کیسي	(۲۰)
۸:-	دقوماندانانو دسرتاسرۍ شورا	(۲٤)
۹:-	روسیه دتوټي کیدو په	(۳۲)
۱۰:-	جهاد دشعر اوادب په پلوشو کي	(۳٥)
۱۱:-	اوټانکونه وغوریدل ...(لنده کیسه)	(۳۷)
۱۲:-	اوښکه په شکرونو شوه ...(تکل)	(٤۰)
۱۳:-	دازادي مسافر ...(پرکتاب تبصره)	(٤۱)
۱٤:-	جهان درماهي که گذشت	(٤٤)
۱٥:-	راغلي لیکونه	(٥۰)
۱٦:-	ابدي ژوندي	(٥٤)

دهیئت تحریر ترنظر لاندي

مکاتباتي پته

پوست بکس نمبر: (۱۰۳۳)
یونیورستي ټاون - پیښور
دټیلفون نمبر : (٤۱۷٤٦)

بسم الله الرحمن الرحيم

دفتحې ، نصرت اورحمت مبارکه میاشت

دکب میاشت دقیامونو اوغورځنګونو میاشت ده،دغه میاشت دافغانستان دجهاد په وياړمن تاريخ کي له حادثو اوحماسو ډکه میاشت ده. د۱۳٥۷ لمريزکال دحوت په ۲٤ دهرات دقهرمانو سربښندونکو پاڅون اود۱۳٥۸ لمريز کال کي دکابل داتلو سرتيرو قيام دوي داسي تاريخي او جاوداني حادثي دي چي دافغانستان دجهاد دوياړلي تاريخ تلپاتي حماسي ګڼلي شي اونه هيريدونکي کارنامي .

سږکال کب دمبارکي روژي دحلول افتخار هم لري،درمضان مبارکه میاشت چي درحمت، نصرت، تقوا اوبرکت میاشت ده په حوت کي رادبره شوي اوپه همدغه مبارکه میاشت کي دهيواد په داخل کي دقيامونو اوغورځنګونو څپي توپاني اوکړېږپراخه شوه ، په همدي میاشت کي پر خوست يو مخيز اوګډ عمليات پيل شول اودالله تعالي په فضل دمجاهدينو ډيري ستري فتحي په برخه شوي، دوروستيو خبرونو له مخي دخوست شاوخوا ټولي پوستي دمجاهدينو له خوا فتحه شوي اودماتي خوړلي دښمن ګڼي ځالي له منځه تللي دي .

دکابل لاس کينولي رژيم دسقوط په ژي ولاړدي اومذبوحانه هلي ځلي کوي چي دمجاهدينو دګډو او يو مخيزو بريدونو تسلسل سبوتاژکړي .

دروانو ګډو اويو مخيزو عملياتو اوبريدونو يو بارز خصوصيت دادي چي داديوي ګډي اومتحدي ستراتيژي له مخي چي جهادي قوماندانان پري دسرتاسري شورالله لاري متفق شوي بڼه نيولي اوپيل شوي دي .

دخوست بریالیو عملیاتو وکولي شول ددښمن دشکست ترڅنګ په پوځي اوسیاسي برخه کي منځ ته راغلي رکود اوبن بست له منځه یوسي او دجهاد په سطحه دیوه بریمن تحرک اوغورځنګ مخه پرانیزي .

اوامید دي چي نوي کال دهمداسي سترو، ګټو اوبو مخیزو بریدونو دبریالیتوب له امله دمجاهدینو دبشپړي بري کال وګرځي اود کمونیزم بقایا وي دشکست اوبشپړ سقوط په کنده کي خپل شوم انجام ته ورسیږي .

خوداهم بنایي ووایو چي داډول جنګي بریالیتوبونه اوپرمختګونه ترڅاپوه کلکه سیاسي اوګډه قوي اداري پشتوانه اوتکیه ګاه غواړي چي دا دقیادتونو هغه مسوولیت دي چي په پوځي ساحه کي دمجاهدینو بریالیتوبونه دخپل سیاسي متحد موقف له لاري پري تقویه کړي اوپري نږدي لکه مخکي چي دمجاهدینو پوځي بریالیتوبونه ددوي دګوندي کشمکشونو اوسیاسي لوبو قرباني شي .

څکه مخکي هم دمجاهدینو جنګي قوت اوپوځي پرمختګ دقیادتونو داختلافاتو او تونډو رقابتونو اوخصمانه موضعیګریو له لاسه له سختو اوشدیدو ضربو سره مخامخ شوي ، که خداي مه کړه داځل هم قیادتونه دمجاهدینو دقربانیو اومقاومت لاسته راوړني همداسي دخپلو ذاتي غرضونو اوګوندي ملحوظاتو له مخي شاته وغورځوي اوددغه ډول سترو اوبي دریغه قربانیو له لاري لاسته راغلي بریالیتوبونه دګوند اواقتدار غوښتني دهوس قرباني کولو ته دوام ورکړي ملت به هیڅکله هم دخپلو دغو درنو قربانیو په وړاندي داډول بي تفاوتي ، بي کفایتي اوخود غرضي جفا ونشي زغملي،دلته به وي لکه څنګه چي په پوځي لحاظ یي دخپلو قربانیو له برکته خپله لارو ایستل شوي همداسي په نورو برخو کي هم ابتکار اوعمل پخپل لاس کي واخلي اوپري نږدي چي نورفرصت دبي ګټي انتظار اوزغم په امید له لاسه ورکړي اوموجود وخت اوفرصت،چي بنایي وروستي چانس وي ضایع نکړي .

وما علینا الا البلاغ

آیا افغان قضیی اهمیت بایللی ...؟

هدایت الله «هجرت»

سیاسي تبصره

پدی وختوکي داخبره ډیره کیږی چې نوردافغانستان بحران ته په نړی اومنطقه کې ځوك په هغه اهمیت نه ګوری ، چې په افغانستان کې یې دروسانو دموجودیت په ورځو کې ورته کتل ، وایی چې شاید اوس په نړی کې ډیر کم خلك وی چې ددی خبری له اوریدو سره دی دلچسپی ولری چې په افغانستان کې څه روان دی اوڅه به کیږی .

موږباید داخبره ومنو چې دهری قضیی په باب دهرچا نظر اودریځ یادهغی قضیی له ماهیت نه دهغه دفکری تحلیل اوبرداشت اویا له هغی قضیی سره دهغه دګټودارتباط دځرنګوالی له مخی ټاکل کیږی امریکا ته ډیره دلچسپه وه چې دهغه وخت حریف دمسکو ، په ضد یې مقاومت وشی ، دپراختیا غوښتنی دسیاست یې مخه ونیوله شی اوپه افغانستان یې چې دیرغل له لاری ددوی ګټو ته کوم ګواښونه راولاړکړی وو .

هغه رفع شی دافغانانو دمقاومت په ملاتړ کې پورتنی مسایل دامریکا اساسی اهداف وو چې په ترسره کیدوبه یې طبعاً له دی قضیی سره په هماغه پخوانی بنه د لچسپی کمیږی همداسی دټولو هغو هیوادو علاقه هم دړواخلی چې زموږدقضیی دملاتړسیاست یې پدی بنسټ ولاړوو چې په افغانستان کې یې دروسیی پوځو حضورنشوای منلای .مامخکی وویل چې متاسفانه داخبره چې ګنی دافغانستان انقلاب اوس خپل اهمیت بایللی دی دهرسړی په شونډو ناسته ده .

برسیره پردی چې په بهرکې تبلیغیږی زموږ دانقلاب دننه یې هم اثر غورځولي اوزموږ دلوړی لیکی اولوری سطحی شخصیتونه بی له دی چې دقضیی عمق ته پام وکړی ددی خبری له املـه وارخطا معلومیږی اودامسله په خپله تحلیل اوسیاست کې دیوه مهم اواساسی فکتور په توګه مطالعه کوی .

زه دلته په لنډه ډول پدی دواړو خبرو غږیږم لومړی داچې ایا دافغانستان په باب دامریکا اونورو

هیوادو په علاقه کې ربښتیا هم ډېر اساسي بدلون راغلی؟ دوهم داچې ایاربښتیا هم زموږانقلاب اهمیت له لاسه ورکړی اوباید موږوارخطا واوسو؟

دلومړی خبری په برخه کې دامنم چې امریکا اونوروهیوادو په هغه وخت کې چې روسي لښکرې په افغانستان کې وې او روسیه یو لوی ابرقدرت وُ کومه علاقه له افغان بحران سره درلوده ، اوس به راکمه شوې وي مگر داصحیح نده چې وواېو اوس دافغانستان له حالاتو سره دلچسپي نلري .

په افغانستان کې یولوی فکری پوځی ، سیاسي بدلون راغلی او راروان دی افغانستان مهم سیاسي اوستراتیژیکي موقعیت لري دبولس کلن بې سیاله مقاومت اوانقلاب له منځ نه راوتلی ، دیوی ازادې بښوونکي ستری جگړې اویوی لوی امپراتوری دیرغل تجربه لري ، اوددې احتمال شته چې په یوه نوې فکراوژوندې روحیه اوفعال حضوردیوه انقلابي هیواد په توگه دنړۍ په سیاسي نقشه کې تبارز

په افغانستان کې یولوی فکری پوځی ، سیاسي بدلون راغلی او راروان دی افغانستان مهم سیاسي اوستراتیژیکي موقعیت لري ددولس کلن بې سیاله مقاومت اوانقلاب له منځ نه راوتلی ، دیوی ازادې بښوونکي ستری جگړې اویوی لوی امپراتوری دیرغل تجربه لري ، اوددې احتمال شته چې په یوه نوې فکراوژوندې روحیه اوفعال حضوردیوه انقلابي هیواد په توگه دنړۍ په سیاسي نقشه کې تبارز وکړي.

وکړي نوپدغسي یوه حالت کې گرانه ده چې هغه هیوادونه چې په نړۍ اودې سیمه کې فعال نفوذ اوفعال سیاست لري دافغانستان دحالاتو په باب بې تفاوته پاتې شي البته ددې خبرې واضح کول په کاردي چې دسیاست اوموضع بدلون ځانته خبره ده اودعلاقې ختمول بیله ، داسمه ده چې پرون دځېنو هیوادونو اولوریو

کله چې دیوه انقلابي هدف اوداعیې ترشا ټېر ملت عملاً ودریږي اوقرباني ورکړي ... راوړاندې شي بیا مجاهدین بدې نه وارخطا کیږي چې هغه اوهغه بهرني ځواک مې ترشاته دریږي اومخالفت کوي.

دلچسپي پدې ولاړه وه چې دمقاومت ملاتړ وکړي نن یې دموضع اوسیاست دابنسټ اوښتی اوپه نورو اهدافو ولاړدی مگردافغانستان قضیه ورته په ښه لوی اهمیت مطرح ده .

دافغانستان اوزموږ اسلامي انقلاب چې کوم پوتانشل اوبالفعل قوت لري اوکوم مستقبل لري ، دهغه له مخې له حالاتو پام نشي اړولی !دامسله یوېل اړخ هم لري هغه داچې زیاتره دیوی رواني حربې په توگه استعماليږي داسې چې ځینې جهتونه کله غواړي دمجاهدینو په قیادتونو فشار راوړي ،هغوی تنازل ته چمتو کړي ، اوېدې برسیره دمجاهدینو اوملت مورال زیانمن کړي ، نوبیا پدې تکې زوراچوي چې گویا افغان انقلاب خپل اهمیت اوارزښت بایللی اونور څوک له دې قضیې سره دلچسپي نلري .

داصلي موضوع ددوهمې برخې په باب زمانظرداده چې تقریباً دادتاریخ یومسلم اصل اوڅرگنده تجربه ده چې تول هغه انقلابونه چې دملتونو دفکر ارادې اوعمل په

داسمه ده چې که پرون دځينو هيوادونو اولوريو دلچسپی پدی ولاړه وه چې د مقاومت ملاتړ وکړی نن يې دموضع اوسياست دابنسټ اوبنتی اوپه نورو اهدافو ولاړدی مګر دافغانستان قضيه ورته په نه لوی اهميت مطرح ده .

ټول اړخيزحضورپه معقول متود اوصادقانه احساس رهبري شوی ،بی له دی چې داخبره پکی مطرح وی چې په بهرکې يې څوك غواړی اوڅوك يې نه غواړی دچاخوښه ده اودچانده خوښه ، بری ته رسيدلی دی .

پدی ډول انقلابونو کې خپل ارمانونه مشخص شوی ، ستراتيژی ټاکله شوی ولسونو ته دخپلوارمانونو حقانيت تشريح شوی اودهغوارمانونو په وړاندی داخلاص اوتعهد تضمين ورکړل شوی ، بالاخره دمبارزی دادامی په نتيجه کې دانقلاب دښمنان يانسکوراويا تسليم شوی دی که چې ديوه انقلابی هدف اوداعيی ترشابشپړ ملت عملاً ودريږی اودقربانی محراب ته راوړاندی شی بيا مجاهدين پدی نه وارخطا کيږی چې هغه اودغه بهرنی څواك می ترشانه دريږی اومخالفت کوی .

اوس چې لاتهول افغان ولس زموږدقهرمانو مجاهدينو ترشاولاړدی ، زموږاسلامي انقلاب په لکونو وسلوال جنګيالی لری پنځه ميلونه مهاجرلری ، ديوی تاريخی فتحی افتخارلری .

دوولس کاله پيچلی تجربه لری ، اوعملاً بريالی شعاراوداعيه لری څه وړکيدای شی بياهم موږدخپل قوت اوکمزوری تکی اودخپل بری اوشکست احتمالات له پولی نه دباندی دنوری نړی اونورو هيوادو دعلاقو په کمښت اوزياډښت او دسياستونو په اثبات اونفی کې مطالعه کړو .

موږدعا کوو چې خدای (ج) دی ددی سترانقلاب دلومړی کرښنی مسولينو ته همت ، توفيق اوجرئت ورکړی چې دخپل ولس اوانقلاب دعظمت ټکی درك کړی ، اوله خپل هدف نه دافغان ولس په بی انتها شهامت اوقربانی ولاړملاتړيولوی الهی نعمت وګنی اوددی نعمت دشکرانی داهليت مظاهره وکړی .

که داوکړای شی بيا بری زموږطبيعی مقدر دی که دچاخوښه وی که يې خوښه نه وی که سياست واړوی که يې نه اړوی موږبه يو ،فتحه به وی ، خپلواکې به وی اوځلانده مستقبل به وی .

ملکوتی غږونه

الحاج حبیب الله « رفیع »

د۱۳۵۸ کـال دکـب ددوهـمـی نیتی ماښام ډیر توروږ اوډیرتیاره ، داځکه چې نن دشپې تیاره له توری وریځی سره هم ملګری وه ، دماښام له راخوریدو سره تیاره ډیره مهیبه وه ، دنری باران ګڼ څاڅکی دهواله سړیدو سره ورو ،ورو دتریرف په څپرکو بدلیدل. تیاره شیبه په شیبه زیاتیدله اوورسـره پـه ټـول ښـاردیـوه مـرګـونـی سـکـوت کـیـږدی راخوریدله .

پرکابل ښار له یوی خوادشپې تیاره راخوره شوی وه ، له بلی خـوا دتـوری وریـځـی اومـری واوری ګردلی پوښلی ؤ اوله بلی خوا دکـمـونـسـی رژیـم دشپـې بندیزپری لګیدلی ؤ. دی ټولو واتونـه اوکوڅی لـه خلکـو تش کړی وو، ټولو په خپلو کوروڼو سردننه کړی ؤ اوپه دی توګه یوه لوی ښـار دیوه سرلوړی هیواد دیـوه تاریـخـی پایتـخت دیـوی لـویې هـیبتـناکې اوخـاموشـی هلدیزی بڼه غوره کړی وه .

دماخوستن داتو بجو شااوخوا وه چـې یـو نـاڅـاپـه ددی غـلـی اوپیرړی شپې سکوت مات شو ، دښارله هری برخی نه دالله اکبر ! الـلـه اکـبـر ! الـلـه اکـبـر ! ... ملکوتـی غږونـه واوریدل شـول لکه څومره چې دشپې سکوت غلی اووحشتناك ؤ هماغومره دهغـی ماتیدل لوړ، هـیبتـناك اوپرتمین وو.

ملکوتی غږونه لحظه په لحظه لـوړیـدل ، ښـارګـوټ ګـوټ تـه خوریدل ، زیاتیدل ،هیبتناك کیدل.اوګنیدل دکورنو له بامونو نـه کـوڅـو اوواټـونـو تـه وتـل اوتـر٦٦٦ شـپـوروسـتـه یـې لومړی ځل دشپې بندیز ته خاتمه ورکوله .

دالله اکبر غږونه ددعوت غږونه دی اودبـلـنـی. ددی غـږونـو اغـیـزدومـره زیـات ؤ چـې لـکـه مـقـنـاطـیس غـونـدی یـې خلـك راکـشـول اوټـول لـه تـودو خـونـو څخه بامونـو اوکوڅو ته راوتل اوپـه سړو واټونو کې په تـاوده احـسـاس سـره یـوځـای کـیـدل اوداملـکـوتـی غږونه دټولو وړو زړو اوځـوانـانـو لـه خـولـو څخـه جګیدل.

دالله اکبر وسلی دومره کاری کاروکړچې تش لاسی مومنان دخپلو ، خپلو سیمو دپولیسو

په ماموریتونو ورغلل پری ورننوتل اوپه تش لاس یې دوسله والو پولیسو له لاسونو اوسلاکوتونو څخه وسلې ترلاسه کړې ، دچنداولو دپولیسو ماموریت اودښارخونورماموریتونه یې داورخوراك کړل دملکوتی غږله انګازوسره له دی ماموریتونو څخه سرې لنبې هم راپورته شوی اودتوری شپې په تورزړه کې یې دنور کرښې وغزولې .

زه له کوچنی امان سره بام ته وختلم ، هغه هم په وره ژبه دالله اکبر زمزمې غبرګولې له ټولو بامونو څخه دملکوتی غږونه را ولاړ شوی انګازی سره غبرګیدلی اوداسمان لوړو لوړو ، لوړو ته جګیدلی .

هو ! دشپې ترناوختو پورې ددې ملکوتی غږانګازی لوړی وی اونن شپه داسی وسله په کارلویدلی وه چې دتیرو خونړیو شپو اوږدبندیز یې په وازکومې اودزړه له اخلاصه مات کړ.

*** *** * **

دکب په دریمه سهار اسمان شین ؤ، لمرخپلې زرینی وړانګې دسپینو واورو په فرش غوړولی وی دغلامی دتریتی هوا تور زړه چاودلی ؤ خلك له نووهیلو اوامیدونو سره پاڅیدلی وو، دیوه پاڅون تابیاوه دیوه عمومی پاڅون. دوکاندارانو ژمنه کړی وه چې خپل دوکانونه نه پرانیزی، کارګرانو اوکسب ګرانو هوډکړی وه چې کارته به نه ځی اودتیری شپې دماموریتونو فاتحینو تکل کړی ؤ چې نن به هم خپلو فتوحاتو ته دوام ورکوی اودروس اورژیم پرشیطانی ځالو به خپل بریدونه ګړندی کوی اوپیاوړی کوی .

همداسی هم وشول ددوکانونو کلپونو ته چا کلی ورنژدی نه کړی، دکارګاو دروازی پرانه نستلی شوی اودښارټول مؤمن خواریکښان اوکارګران چې کمونسی دولت به خپله تکیه بلل دهمدی کمونسی دولت پرضد یوه عمومی قیام اواقدام ته راولاړشوی وو.

زه هم له خپل ملګری سره دپخوانی وعدی له مخی داتوبجو شااوخوا له کوره راوتلم ، حالات عادی نه وو ، په کورکې یی رانه وپوښتل:

بیرته به کورته کله راځی:

ماپه داډمنه لهجه ورته وویل : ماښام پنځه بجی !

له کوره راووتلم دباغ بالاپرلوی سړك ټانکونه ګرځیدل خو«ملی بس »سرویسونه هم تلل راتلل ، په موټرکې کښیناستم ، دنوی ښارزرغونی واټ ته ولاړم ، هلته می دوعدی ملګری راغلی ؤ، دواړه په پیښو وغږیدواوخوښی موښکاره کړه ، موږلا پرخپل ځای ولاړوو چې دانصاری څلورلاری له لوری څخه یوه لویه مظاهره راغله ، دالله اکبرملکوتی غږونه تری راپورته کیدل ، دمظاهری په سر،سرکې یوتنکی ځوان روان وو، لارو خلکو ته یې په مظاهره کسې دګډون کولو بلنه ورکوله او ویل به یې: راځی له مرګه مه ویریږی ، دآزادی په پاکه لاره کسې مرګ ژوند دی ! بیا به یې خپل ځان ته اشاره وکړه او ویه یې ویل : دا زه له مرګه نه ویریږم . راځی ، راځی ، له مرګه مه ویریږئ. مظاهره زموږ تر مخی تیره شوه خو دځوان چیغی ترلری لری اورل کیدی : راځی له مرګه مه ویریږئ !

داوخت په واټونو کسې دټانکونو ګڼه ګونه زیاته شوه ،

هر خوابه یې دلیونو په شان پرخلکو دماشینگنو ډزې کولې او هلته په فضا کښې جیټ الوتکې او هلیکوپترونه راولاړ شول ، غوټې یې کولې ، بمونه یې غورځول ویره یې خوروله ، وحشت یې خوراوه اودبربریت مظاهرې یې کولې .

نور نو ښاري موټر نه وو، ټکسي موټر هم ډیر لږ وو، زه او ملگرې مې پلې روان شوو ، له زرغونې واټ نه دآریانا هوټل مخې ته او له هغې ځایه بیا په انصاري واټ درادیو په لاره روان شوو، درادیو په مخه کښې دواړو له سرك نه رادیوته وکتل چې څه شوي او رژیم څه اقدامات کړي ؟

دهمدې کتلو په جرم یې دواړه ونیولو ، سات نیم سات وروسته موټر راغې د«دورځې نوم » یې ورکړ او موږ یې پکښې ولیږلو ، نور کله به په شپې گرځیدلود شپې نوم غوښت خو نن په ورځ کښې گرځیدلو دورځې نوم غوښت.

موږ یې په اماني لیسه کې د رژیم یوې اضطراري قرارگا ته بوتلو او هلته شکنجې او تهدیدونه پیل شول ، له ښارنه دزدوز او دچاودنو درانه غږونه اوریدل کیدل ، دښار په څو ځایونو کښې تور او غلیظ اوورونه پورته وو او بیا څرگنده شوه چې مومنو ښاریانو درژیم څو ټانکونه سوځولي اوپه محمد جان خان واټ کښې یې یوه کتاب پلورنځې ته چې روسي کمونستی کتابونه پکښې خرڅیدل اور ورته کړی ؤ، ورځ مو په لوږه تیره کړه ، مازیگر مال یوبل موټر راغې او څو وسله والو عسکرو دصدارت نظارتخانې ته ولیږدولو . هلته له موږ نه تحقیقات روان وو چې دشپې په رابریدو سره یو ځل بیا په ټول ښار کښې، د ملکوتې غږونو راپورته کیدلو دا مرگونې سکوت مات کړ او یو ځل بیا یې څرگنده کړه چې ددښمن ظلم او وحشت نه یوازې دا چې د ایمان او ارادې مخه نیولې نشي بلکه د سوونو شهیدانو وینې دهمت ډیوې ته نوره رڼاوو وحشت د ارادې پښتوته نور قوت او جرئت وربه برخه کوي.

هو ! دا ملکوتې غږونه څوورځې وروسته ظاهراً غلي شول خو په حقیقت کښې یې هغو ټولو ښاري او روشنفکري قیامونو له پاره د اذان بڼه درلوده چې بیا ور پسې پرله پسې په منظمو صفونو کښې پیل شول.

دشهادت اسلامي فلسفه

ميرزا خيل

شهادت دعربی لفظ دی ، چی لفظی معنی یی گواهی ورکول ده ، ولی دادیوی پاکیزه اسلامی اصطلاح په طورهم مشهوردی اوهر مومن مسلمان ددغه امرپابند جوړوی ، چی همیشه دی دحقی خبری گواهی ورکوی ، عن که ددغه مقصد دپاره دخپل سرقربانی هم ورکول وی حقه خبره هغه نیغه لاره ده کومه چی داسلامی تعلیماتو خاصه ده هم دغه وجه ده ، چی دشهادت داصطلاح نه عام طورداسلام دسرلوړی دپاره دسرورکړه مفهوم اخستلی شی. دحق دپاره گواهی کومه وړه یا معمولی خبره نه ده داډیر مشکل کاردی قرآن عظیم الشان په ډیرو واضحو اوښکاره الفاظو دغه ضمن کی وضاحت کړی دی چی دغه سلسله کی به مومنان دډیرو مشکلوحالاتو سره مخ وی ، ارشاد ربانی دی :

ترجمه : اومونږبه تاسو په څه خوف ، ولوږه ، مال وسراومیووپه نقصان ضرورازمایو اوصبرکوونکو ته زیری ورکړی . (سوره البقر)

بیا هم هغه خلق چی اسلام یی دزړه نه منلی دی ، هغوی ددغومصایبو اومشکلاتو ډیره په صبر اوځوانمردی مقابله کوی اوبرداشت کوی الله تعالی فرمایی:

ترجمه : هغه خلق چاته چی کوم مصیبت وررسی ، هغوی وایی: چی موږدالله تعالی یو اوهم هغه ته به واپسی وی (سورة البقر) .

بیا دحق په لارکی پیښیدونکی ټول مشکلات برداشت کوی اودخپل مال وسر نذرانه ورکوی ، واقعی چی دایو ډیرلوړمقام دی الله تعالی دخپلومؤمنانو دانذرانه قبلوی اودغو شهیدانو ته ابدی ژوند ورکوی ، دغه ضمن کی خپلو مؤمنانو ته دایقین هم ورکوی اوددی خبری تاکید کوی ، چی داشهیدان مړه مه گنئی بلکی داژوندی دی الله پاك فرمایی :

ترجمه : اوکوم خلق چی دالله تعالی په لارکی قتل کړی شی هغه مړه مه گنئی، هغه ژوندی دی لیکن تاسو نه پوهیږی (سورة البقر)

دشهادت ددغه لوی مقام په وجه مسلمانان دخپل تاریخ په هردورکی داسلام دسربلندی‌دپاره دخپلو سرونو نذرانی ورکوی اودغه شان ابدی ژوند ومومی داسلام په ابتدا یی دورکی حضرت امام حسین (رض) هم ددغه اعلی

داسلام دانظام دانسانیت دحکومت دپاره درحمت باعث شو .خلفاراشدین داسلامی حکومت دابهترینه نمونه دتولی نړی ترانسانانو درسولو کوشش وکړو ولی افسوس دی ، چی دهغو نه پس داسلسله بیا جاری پاتی نشوه.

مقصد دپاره دخپل اوځنو نورو خپلوانو دسرونو نذرانه پیش کړه ، داندرانه داسلام په تاریخ کی دیو میل کانی حقیقت خپل کړی دی چی تفصیل یی داسی دی:

رسـول اکـرم (ص) چـی کـوم حـکـومـت قـایـم کـړی وو ، هـغـه داسلامی تعلیماتو یوه بهترینه نمونه وه چی تولو انسانانو ته یکی برابر حقوق حاصل وو اومسلمانانو به خپلی معاملی دیو بل سره په مشورو فیصله کولی ، دغه ضمن کی قران مجید کی داهدایات نازل شوی دی :

ترجمه :اوځوک چی دخپل رب حکم منی اوچی لمونځ کوی اوکارونه دیو بل سره پـه صـلاح مـشـوره کـوی اوهـغـوی زموږدمال نه څه دالله پـه لارکـی ورکـوی (سوره الشوری)

داسـلام دا نـظـام دانسانیت دحکومت دپاره درحمت باعث شو .

خلفاراشدین داسلامی حکومت دابهـتـریـنـه نمـونـه دتـولـی نړی ترانسانانو درسولو کوشش وکړو ولی افسوس دی ، چی دهغو نه پس داسلسله بیا جاری پاتی نشوه

ملوکیت چی اسلام بی بنیاد ختم کړی وو ، یو ځل بیا رامخی ته شو اوداسـلامـی حـکـومـت ځـای یـی واخستو اودخپلو جرړومضبوطولو دپاره یی دخلکو حقوق غصب کول شروع کړه اوخپلو کی دیو بل سره دصلاح مشوری روایت یی ختم کړو اودحکمرانانو دخولی وتلی الفاظو قانون وګڼلی شو ، داسلامی

. چی داسلامی حکومت له برکتونو فیض یاب شوی وو، هغوی له دغو حالاتو ختمولو دپاره دیوخالص اسلامی حکومت دقایمولو فیصله وکړه، درسـول کـریـم (ص) لا څـه صحابیان هم ژوندی وو، چاچی دخلافت دادارو ختمولو حکمرانانو پـه لاس دبعیت نـه انکاروکړو او دیو خالص اسلامی حکومت داحیا دپاره یی دغو اصحابانوتـه رجـوع وکـړه خـلـقـو تـړل امیلونـه‌دامام حـسـیـن (رض) سـره

هم دغه دشهادت دجذبی نتیجه وه ، چی کله روسی برو کافرو دیو څوملیت نروشو په ملګرتیا دافغانستان په اسلامی خاوره یرغل وکړو نو صرف دشهادت دجذبی په وسله یی ددغو اسلام دښمنه طاقتونو مقابله وکړه.

مملـکـت پـه لـړزو لـړزو مـقـامـاتـو حکمرانانو ددغو حالاتو نه ناجایزی فایدی ترلاسه کړی اوپه خلکو یی ظلمونه شروع کړه چی نتیجه یی د ګدودی په شکل رادوچاره شوه اوپه هرځای امن وامان تالا ترغه شو ولی لا داسی مسلمانان ژوندی وو

تړلی وو ،

ځکه نورددغه مقصد دپاره دملك دمختلفو برخونه حضرت امام حسین (رض) ته خطونه لیږل شروع شو ، حضرت امام حسین (رض) ددغو خلکو له اخلاص نه دیر متاثره شو اودهغوی دمددکولو

فیصله یی وکړه .

خوهرکله چی مستبد حکمرانان دخپل موثر جاسوسی نظام په وجه ژوندی وی یزید هم یو داسی حکمران وو اوهغه په ملك کی دنوو حالاتو دپیښی نه ناخبره نه وو اوځه وخت چی هغه ته معلومه شوه چی حضرت امام حسین (رض) ددغو خلکو دامداد کولو اراده کړی ده ، نوهغه ددغه مقصد دناکام کولو دپاره په خلکو کی خپل خاص سړی ورداخل کړه .

اوهغوی په خپله چالاکی دوه ځایه کړه ولی حضرت امام حسین (رض) اودهغوی ملګری دځنو خلکو ددغه بی وفایی باوجود ددښمن دلا تعداده فوځونو سره دمقابلی فیصله وکړه ،اودهغوملګري ډیره په میړانه ددښمن سره وجنګیده اودخپلو سرونو عظیمه قربانی یی پیش کړه.

په مختلفو تاریخی دوررونو کی په امت مسلمه داسی وختونه هم راغلی دی چی ددوی جماعتی طاقت به ختم شو اوغلیمانو به دهغوی دختمولو فیصله هم وکړه ولی دشهادت هم دغه اسلامی جذبه ده چی دمسلمانانو دژوند اثاریی تراوسه پوری محفوظ ساتلی دی

رسول اکرم (ص) چی کوم حکومت قایم کړی وو ، هغه داسلامی تعلیماتو یوه بهترینه نمونه وه چی ټولو انسانانو ته یکی برابر حقوق حاصل وو اومسلمانانو به خپلی معاملی دیو بل سره په مشورو فیصله کولی .

اوپه انفرادی اواجتماعی ډول دخپلو سرونو په قربانولو کی دمسلمانانو ملی تشخیص ژوندی وساتلو، نوځکه داسلام ددښمنانوته داسلام دختمولو خیالونه اوخوبونه بی نتیجی اوبی تعبیره پاتی شول .

په اتلسمه اونولسمه هجری پیړی کی دمسلمانانو سیاسی طاقت مخ په زوال شو اوغلیم له دغو حالاتو فایده ترلاسه کړه اوټول اسلامی هیوادونه یی دخپل تصرف لاندی راوستل ولی بیا هم مسلمانانو کی دشهادت دجذبی په موجودګی ددوی نه خائف وو اودا خیال وو چی که چیری دوی کښی کوم رهبر پیداشو نوددوی دشهادت داجذبه به ددوی په زړونو کی راپیداره کړی ځکه نو مسلمانانو کی دشهادت دجذبی ختمولو دپاره داسلام دغو دښمنانو ډیرکوښښونه وکړه ولی با وجود دخپلو کوششونو پخپل دغه مقصد کی ناکام شول ، عن چی مسلمانان یو ځل بیا دغفلت له خوبه راپیدارشول اوپه هرسنګر یی خپلو غلیمانو ته ماتی ورکړه .

هم دغه دشهادت دجذبی نتیجه وه ، چی کله روسی سرو کافرو دیو ځومليت فروشو په ملګرتیا دافغانستان په اسلامی خاوره یرغل وکړو نو صرف دشهادت دجذبی په وسله یی ددغو اسلام دښمنه طاقتونو مقابله وکړه اودجهاد.دامقابله ترهغه وخته جاری وه ترخویی چی دسرو کافرو دغه یرغل په شاونه ټمبولو ، په لکونو افغانانو داسلام اووطن دازادی په شمع لکه دپتنګانو خپل ځانونه قربان کړل اوداسلامی وقارساتلو سره سره یی دوطن دازادی خپل تاریخی روایات هم ژوندی وساتل ، او په مادی وسایلو شتمن دیو یولوی طاقت یی دیو داسی شکست سره مخ کړو چی مستقبل به یی دافغانانو دسیاسی تاریخ یوځلنده اوروس دسیاسی تاریخ یوتك تور باب په نامه یاد کړی .

داستعمار غولوونکي څېرې

عبدالوکیل

دبشـــري ټولنې په تاريخ کې داستعمـــاروډول ډول بڼې اوڅېـرې راڅرګندې شـويدي خـودټولو ماهيتدملتونو اوولسونو دزبيښاك اوبنکيلاك پرينسټ ولاړدی .

ددوهمې نړيوالې جګړې ترپايه پورې دزاړه استعمار په بڼه (په مستقيم ډول دوسلې اوپوځ په زورسره ديوه هيواد اشغال اوتسخير دبل هيواد په واسطه) پرولسونو اوملتونو باندې تسلط ساتلو عموميت درلود اونښانې يې لاتراوسه پورې هم دنړۍ په هغه اوبا دغه سيمه کې څرګندېږي دبېلګې په توګه په ۱۳۵۸ هـ ش کال کې دروسانو نظامي تېری پرافغانستان ، دويتنام يرغل پرکمبوديا اوپه ۱۳۶۹ کال کې دعراق نظامي قواوو په واسطه سره دکويټ اشغال يادولی شو خونوموړې استعماري بڼه دتاريخ په اوسني پړاوکې ډېره رسواشويده اوپه نړيواله سطحه دهغې په مقابل کې دولسونو اوملتونو ټينګار اونفرت اخرنی پولې ته رسيدلی نوځکه استعمارچيانو هم خپلې څېرې بدلې کړې اودنوي استعمارپه بڼه يې خپل دظلم اوزوروحشت پيل کړدنوي استعمارطريقې ډېرې دي خومهمې يې دادي :

په باندنيو هيوادوکې دپانګې اچونه :

په اقتصادي اوتخنيکي لحاظ پرمختللي هيوادونه په وروسته پاتې ساتل شويو هيوادونو کې فابريکې ، کارخانې اودپانګې منځ ته راوړونکي ډول ډول موسسې جوړوي .

په دې صورت کې دپانګې صادرونکو هيوادونو لپاره داګټې موجودې دي :

الف : په لږه تنخواه سره دکارګرانو استخدام .

ب : دخاموموادو ارزاني .

ج : دپانګې کوربه هيواد دپخوموادودبازارپه توګه استعمال.

د: دپخواوخامو موادودترانسپورټي مصارفو لږوالی.

خودپاملرنې وړټکی دادی چې کوم وخت نوموړي پانګه اچونه ځان ته افراطي حالت غوره کړي يعنې هغومره زياته شي چې دولتي او خصوصي پانګه ترخپل نفوذ اوتاثير لاندې راولي نوپه نتيجه کې دهيواد اقتصادي شريانونه تسخيروي اودخپلې خوښې سره سم يې ترخپلې اداري اوکنترول لاندې

نیسي دلته ده چې ددولت سیاسي خپلواکي هم تريې خوندي پاتې کیدای نشي اوبالاخره ظاهراً نوموړی هیواد اودولت خپلواک ځرگندیږي خوپه ماهیت اواساس کې ټول بهرنی اوکورنی سیاست اوپه ټولنه پورې اړونده کړه وړه دهغه پانگوال هیواد لخوا ورته دیکته کیږي کوم چې په نوموړي وروسته پاتې ساتل شوي هیواد کې یې خپله ډیره پانگه اچولي وي په دې ترتیب سره وروسته پاتې شوي هیوادونه ترخپل تسلط اوښکیلاك لاندې راولي .

دکودتاگانو منځ ته راوستل :

استعمارگرهیوادونه په وروسته پاتې ساتل شویوهیوادونو کې دخپلو اجنټانو په واسطه کودتاگانو ته سازمان ورکوي اوکله چې سیاسي قدرت په بشپړ ډول سره دهغوی داجنتهانو په لاس کې ولویږي بیا نونوموړي استعمارگرهیوادونه ورسره سیاسي ، اقتصادي ، کلتوري اونورې ټولنیزې اړیکې ترهغو پورې ټینگوي ترڅوچې دهیواد اقتصادي ، سیاسي ، کلتوري اونور ټولنیز اړخونه په بشپړ ډول سره ترخپلې سلطې اواقتدارلاندې راولي پردې سربیره دنظامي اړیکو اووسلو خرڅولو انحصار، قرضدارۍ ، په

> روسان دبلې استعماري طریقې اودولسونو دتیر ایستلو لاروچارو په لټه کې دي همدا وجه ده چې کله دگلاسنوست اوکله دپریسترویکا سیاست څخه خبرې اترې کوي .
>
> اوس چې دافغانستان مجاهد ولس په افغانۍ خاوره باندې دخپلواك اسلامي حکومت دجوړیدو په درشل کې دي دغرب اوشرق شیطاني قوتونه دخپلې خوښې دولت درامنځ ته کیدو لپاره بیا هم دنویو لارو چارو څخه کاراخلي نوځکه دافغانستان دمسلمان اوتوریالي ولس لپاره ضروره ده چې په ډیر احتیاط سره داستعماري قوتونو پلانونه خاورې ایرې کړي

قیدا وشرط مرستې ، دمهمو تجارتي جنسونو دپیرلو اوپلورلو انحصارټولې هغه لارې چارې دي چې په دې اړوند وروسته پاتې ساتل شوي هیوادونه داستعمارپه لومو کې ښکیل کیږي .

د۱۹۱۷ م کال څخه راپه دې خوا داستعماربله طریقه دروسانو په واسطه سره په مختلفو هیوادونو خصوصاپه وروسته پاتې ساتل شویو هیوادونو کې دپه اصطلاح ملي دموکراتیکو انقلابونو ، خلقي دموکراتیکو انقلابونو اوپرولتري انقلابونوپه بڼه په کارواچول شوه .

هغو هیوادونو چې دشلمې پیړۍ دلمړیو څخه خصوصاً ددوهمې نړیوالي جگړې څخه وروسته خپلواکي ترلاسه کړې ، دروسانو لخوا ورته دغیر پانگوالی دودې لارې (راه رشد غیرسرمایه داری) څخه دملي دموکراتیکو انقلابونو په بڼه کمونیزم (سوسیالیزم دکمونیزم لمړۍ مرحله بولي) ته دتللو اقتصادي ، سیاسي اوټولنیزه لارزیاته تبلیغیده اوپه ریښتیا سره هم چې هغه یو شمیر هیوادونه چې دغربي هیوادونو له استعمارڅخه ترپوزې راغلي وو نوموړي اقتصادي ، سیاسي اوټولنیزه تگ لارېې دخپلواکی اوټولنیزې ترقی لپاره ترټولو ښه اومناسبه لارو بلله خوډیر زر ځرگنده شوه چې نوموړي اقتصادي ، سیاسي اوټولنیزه تگ لاره دباران په عوض ناوې ته

دریدل دي په دې معنیٰ چې اقتصادي ، سیاسي اوټولنیز پرمختګ یې په ښې ساري ډول سره ورو اوملي خپلواکي یې دروسانو سره داقتصادي سیاسي

استعمارگران دښکارچیانو په څیر همیش هغه تیرایستونکی څیرې اغوندي چې په هغوی باندې ترټولو ډیر دملتونو اوولسونو دراغوندیدو اوښکارکیدو امکانات ولرې اوکومې څیرې چې رسوااوافشا شي نوبیا هغه بدلوي اوپه عوض یې نوې اونوي څیرې رامخ ته کوي .

اوټولنیزواړیکو دټینګښت اودوستۍ په استعماري درياب کې په ډوبیدوشوه .

یو شمیر دغو هیوادونو وکولی شول چې خپلو اقتصادي ، سیاسي اوکلتوري تګ لاروته تغیرورکړي اونور یې تردې دمه پورې دروسانو سره داړیکو په ټینګیدو کې خپلې ملي خپلواکی له لاسه ورکړې نواوس چې داستعمار داطریقه او ښه هم افشا شویده ، روسان دهلې استعماري طریقې اودولسونو دتیر ایستلو لاروچارو په لټه کې دي همدا وجه ده چې کله دګلاسنوست اوکله دپریسترویکا سیاست څخه خبرې اترې کوي .

اوس چې دافغانستان مجاهد ولس په افغاني خاوره باندې دخپلواک اسلامي حکومت دجوړیدو په درشل کې دی،دشرق اوغرب شیطاني قوتونه دخپلې خوښې دولت درامنځ ته کیدو لپاره بیا هم دنویو لارو چارو څخه کاراخلي نوځکه دافغانستان دمسلمان اوتوریالي ولس لپاره ضرورده چې په ډیر احتیاط سره داستعماري قوتونو پلانونه خاورې ایرې کړي .

افغانانو په دې اخیروکې دمحمد ظاهرتولواکي اومحمد داؤد خپل سرې رژیم وازمویل ، دخپل وخت دغوقدرت مندانو دغرب خصوصاً شرق لپاره ټولې اقتصادي ، سیاسي ، کلتوري اونظامي لارې خلاصې اوبې کنټروله پریښودلې چې په نتیجه کې یې نه یوازې خپل ځانونه له منځه یوړل بلکې دافغان ولس دبربادۍ سبب هم شول اوروسانو ته یې دافغانستان داشغالولو ښې زمینې برابرې کړې.

افغانانو هغه معاصر وطن پلورونکي (دخلق اوپرچم ډلې اونورروسي اجنټان) هم وازمویل چې دټولنیزې پرمختیا ، وطن دوستی اوهومونیزم دبرې یې په سینه وهلې ، دغو معاصرو وحشیانو تریل هرچا ګرندی خپل اصلی ماهیت څرګند کړاودوطن په خرڅولو ، غلامی ځنځیرپه غاړه کې اچولو ، په ملیونو افغانانو دشهیدولو ، معیوب کیدواوټولو مادي اومعنوي ارزښتونو دبې ساري بربادۍ اوبیچارګۍ په اړوند دهل هرچاڅخه وراندې اومخکښ شول نودنوموړو ازمویل شویو بیا ازمویل نه یوازې داچه خطا ده بلکې داسلام ، وطن اوولسونو سره غتیه سودا بازي ، بې عزتي ، خیانت،پستي ، بربریت اوداسې بدې چې تراوسه دقلم په ژبه نه دي څرګندشوي.

نوځکه ددې لپاره چې افغان ولس په راتلونکي کې دوکه نشي دهرچاداسلامیت ، وطن دوستی اوولس سره خواخوږی دعمل په تله (ترازو) ارزیابي کوي..

استعمارگران دښکارچیانو په څیر همیش هغه تیرایستونکی څیرې اغوندي چې په هغوی باندې ترټولو ډیر دملتونو اوولسونو دراغوندیدو اوښکارکیدو امکانات ولرې اوکومې څیرې چې رسوااوافشا شي نوبیا هغه بدلوي اوپه عوض یې نوې اونوي څیرې رامخ ته کوي .

سمیع الله (تازه)

زاویه جدید اما دورنمای تاریك برای مسالهٔ فلسطین

ایالات متحده ومتحدین ستراتیژیک ان درغرب یعنی انگلستان وفرانسه بعد ازشکست عراق واسترداد سرزمین کویت به امیرآن وبا حضور عملی ونظامی نیرومند وفاتحانه خویش اکنون میخواهند منازعه فلسطین راکه بیش ازچهل سال صلح و امنیت رادرشرقمیانه ازبین برده وموجب سه جنگ خونین میان اعراب واسرائیل،این متحد طبیعی امریکا درمنطقه گردیده است بطریقی حل وفصل نمایند که ازیکطرف منافع ستراتیژیک کشورهای مذکور درمنطقه تامین وازطرف دیگر با قناعت دادن فلسطینی ها امنیت کشور نامنهاد یهودی تامین گردد.

بوش رئیس جمهور ایالات متحده دربیانیه خویش که بعد ازاتش بس موقت میان قوای در گیر جنگ خلیج ایراد نمود گفت که زمان آن فرارسیده است تامعضله فلسطین حل گردد.

بیکر وزیر خارجه امریکا نیز اظهارداشته بود که درآینده تحت شرایط مناسب کنفرانس بین المللی درارابطه به مساله فلسطین دایرشده میتواند همچنان امریکا فعلا این راه رانیز پذیرفته است تادربدل یک صلح پایدار اسرائیل باید سرزمینهای که درجنگ ۱۹۶۷ ازاعراب اشغال نموده مسترد نماید.

اینها گرایشها ونکات مهم وجدید اند که درنظرات امریکا درارابطه به حل قضیه فلسطین بمشاهده میرسد.

ایالات متحده ازسالها بدینسو روی مساله فلسطین غورمی کند، درزمینه طرحهای مختلف درسطح جامعه ملل متحد وصحنه سیاست بین المللی ازطرفهای مختلف ارائه شده است که تمام آنها بنابر دلایل مختلف توسط طرفهای درگیر رد گردیده است. اسرائیل هیچگاه حاضر نبوده است

کشورهای عربی چون مصر، سوریه وعربستان سعودی ازموضع جدید امریکا استقبال کرده اند ، دولت سوریه اعلام نموده است که تشکیل کنفرانس بین المللی تحت سرپرستی ملل متحد بخاطرحل تصفیه فلسطین انکشافات بزرگ است مشروط براینکه امریکا واقعاً ازان حمایت نماید.

اریک وجب خاک اشغال شده صرف نظر نماید چی مانده .که ایجاد یك کشور فلسطین راطبق فیصله ملل متحد درکنارخویش بپذیرد.

ملل متحد بعد از ایجاد دولت نامنهاد اسرائیل ساحه فلسطین راتقسیم وآنراقسمتی به اسرائیلی ها وبخشی رابه فلسطینی ها اختصاص داد اما دولت یهودی به همکاری وپلان مرکز بین المللی صهیونستی وهمکاری علنی انگلستان ، فرانسه وامریکا با بیرون راندن فلسطینی ها ازخانه وکاشانه شان که باقتل عام همراه بود تمام ساحه فلسطین رابا زور اسلحه اشغال نمود.

اسرائیل اکنون هم برپیشنهاد وطرح سال ۱۹۸۹ خود پافشاری می کند که براساس آن هیات فلسطینی برای یك کنفرانس براساس انتخابات درمناطق فلسطینی تحت اشغال اسرائیل انتخاب می شود هدف اسرائیل ازین امراین است که باید درهیات فلسطین شامل مذاکره اعضای سازمان ازادیبخش فلسطین عضویت نداشته باشند .

ولی اکنون پذیرفته است که یك گروپ فلسطینی ها شامل کنفرانس صلح گردیدند واین یك انعطاف بسیار ناچیز اسرائیل دررابطه به مساله است که هیچگاه نمیتواند مهم وحسابی باشد ، اماامریکابان بسیاربه ارزش قایل است .

موقف فلسطینی ها درراس سازمان ازادیبخش فلسطین که تاقبل ازجنك خلیج درتمام جوامع بین المللی بحیث یگانه نماینده مردم فلسطین شناخته میشد دراثر طرفداری رهبری آن سازمان ازصدام حسین رهبرعراق همچون صدام حسین بازنده گردید، دیگر کشورهای متنفذ عربی چون مصر، عربستان وسوریه ازسازمان ازادیبخش فلسطین بحیث یگانه نماینده مردم فلسطین پشتیبانی نمی کنند ، سازمان ازادیبخش نیز باازدست دادن افراد فعال واگاه و چند دسته گی تضعیف گردیده است.

باتحلیل وضع،امریکا علاقه نشان نداد تادرچنین شرایط باسازمان ازادیبخش فلسطین تماس قایم نماید بلکه جمیز بیکر وزیر خارجه امریکا ضمن سفر مفصل خود که بعد ازجنك خلیج به کشورهای شرقمیانه اروپا وروسیه انجام داد

بایک هیات یازده نفری فلسطینی های سرشناس مناطق تحت اشغال اسرائیل راجع به تشکیل کنفرانس احتمالی صلح ودورنمای صلح درمنطقه به مذاکره پرداخت.

سران فلسطین مناطق تحت اشغال اسرائیل ضمن ملاقات بابیکر دربیت المقدس خواهان تحقق فیصله نامه ملل متحد درجهت خروج اسرائیل ازمناطق اشغالی شدند .

سازمان ازادیبخش فلسطین نیز به فعالیت سیاسی خویش اغاز نموده اما کشورهای امریکا ، انگلستان وفرانسه که عملا حاکمیت برمنطقه راحاصل نموده اند چندان علاقه به تلاش(پی . ال .او) نشان نمید هند وبان ارزش قایل نیستند .

کشورهای عربی چون مصر، سوریه وعربستان سعودی ازموضع جدید امریکا استقبال کرده اند ، دولت سوریه اعلام نموده است که تشکیل کنفرانس بین المللی تحت سرپرستی ملل متحد بخاطرحل قضیه فلسطین انکشافات بزرگ است مشروط برینکه امریکا واقعا ازان حمایت نماید.

امریکا درگام نخست میخواهد فاصله میان کشورهای عربی واسرائیل و بعدا فلسطینی ها واسرائیل کاسته شود تازمینه عملی تدویر یک کنفرانس بین المللی بمیان اید .

> باتوجه باین اصل انکارناپذیرکه اسرائیل متحد نزدیک امریکا درشرقمیانه است وباپول ، سلاح وسیاست ازان کاملا حمایت می نماید بسیار بعید بنظر میرسد امریکا چنان طرح جامع را بخاطر تامین صلح درشرقمیانه ارائه نماید که طرف قبول طرفین واقع گردد ، ولی میتواند با نیرومندی سیاسی ونظامی جدید که درمنطقه نصیبش گردیده گام های عملی بردارد .

باتوجه باین اصل انکارناپذیرکه اسرائیل متحد نزدیک امریکا درشرقمیانه است وباپول ، سلاح وسیاست ازان کاملا حمایت می نماید بسیار بعید بنظر میرسد امریکا چنان طرح جامع را بخاطر تامین صلح درشرقمیانه ارائه نماید که طرف قبول طرفین واقع گردد ، ولی میتواند با نیرومندی سیاسی ونظامی جدید که درمنطقه نصیبش گردیده گام های عملی بردارد.

امریکا تلاش خواهد نمود با دورنگهداشتن سازمان پی . ال .او ازصحنه موضع سیاسی آنرا همچنان ضعیف حفظ نموده درعوض گروهی ازاگاهان مناطق تحت اشغال راوارد صحنه سازد که طرف قبول اسرائیل میباشد .

اسرائیل باداشتن پشتوانه قوی اقتصادی وسیاسی درجامعه امریکا قادر به وارد اوردن همه گونه فشارهابردولت امریکا میباشد بناء میتواند

هرطرح امریکا راکه اسرائیل مناسب حال واحوال سیاسی ونظامی خویش نداند بدون تشویش رد نماید . وامریکا نیز تلاش نخواهد کرد وحاضر نخواهد بود بخاطر تحقق حد اقل حقوق فلسطیني ها متحد قدیم وقابل اعتماد واطمینان خود را برنجاند،ازبرای حل مساله فلسطین درهرطرحی که ازطرف امریکا ارائه عملی می گردد اینده مساله فلسطین تاریك وناامید کننده بنظر می رسد .

کشورهای غربی بشمول روسیه گرچه ازطرح امریکا مبنی برتشکیل کنفرانس بین المللی حمایت نموده اند ولی بعید بنظر می رسد که براحقاق حقوق کامل مردم فلسطین پافشاری داشته باشند وبراهی خواهند رفت که امریکا درپیش پایشان میگذارد .

اسرائیل باداشتن پشتوانه قوی اقتصادی وسیاسی درجامعه امریکا قادر به وارد اوردن همه گونه فشارهابردولت امریکا میباشد بناء میتواند هرطرح امریکا راکه سرائیل مناسب حال واحوال سیاسی ونظامی خویش نداند بدون تشویش رد نماید

زیرا طرح توطئه ایجاد اسرائیل طرح مشترک همه آنهابود وامروز وقت آن فرارسیده است تابا استرداد اندکترین حق غصب شده مردم فلسطین برای اسرائیل ویزای حیات کامل بخرند .

شرایط کنونی ازجهتی هم مناسب بنظر میخورد که توجه جهانیان به حل مساله فلسطین مبذول گردیده است وبا جنك خلیج این امربه یك ضرورت عاجل مبدل گشت ولی مطالعه وضع نشان میدهد که شرایط کاملا به نفع اسرائیل بوده بدون شك امریکا ازین وضع درتامین یك صلح به نفع اسرائیل استفاده خواهد کرد.

دصلیبیانو دظلمونو او وحشتونو کیسې

لیکنه جلال العالم --ژباړه سلطان محمود صلاح

که دغرب اواسلامي ملتونو د اړیکو تاریخ ته یو ځغلند نظر وکړو نودابه راته په ډاګه شي چه غربیان له اسلام او مسلمانانو سره دومره کینه اوحسد لري چه نژدې دې لیونتوب درجې ته يې ورسوي .

خو داهم باید له یاده ونه باسو چه د اسلام له ویرې نه يې زړونه هم په لړزه دي .

که دغربیانو دا کینه او ویره هسې شخصي او نفساني احساس واي ، نوبیا زمونږ ورسره څه ډیر کار نه ؤ ، خو حقیقت بل ډول دی ، داسلامي ولسونو په هکله تول غربي دریزونه سیاسي وي که اقتصادي دهمدې کینې او ویرې په اساس تاکل کیږي ، نو همدا وجه ده چه پدې هکله زمونږ دریز هم بدلون مومي ، پدې معنی چه لدې کارسره مو کار پیدا کیږي .

په راتلونکي کې به دغربي مشرانوله خولې نه واورې چې داسلام په هکله دټولو غربیانو دهرې قبیلې او ډلې څخه چه وی دریځ یو او بدلون نه منونکی دی.هغوی ټول غواړي اسلام له منځه یوسي اومسلمانان په پوره بې رحمۍ سره دورکې او نابودۍ په څپیره ووهي .

دصلیبي جګړو په دوران کې هغوی ډیرې هلې ځلې وکړې چه دخپلو میلیونونو سپاهیانو په لاس اسلام دځمکې له مخ نه ورك کړي ، خو هغوی خپل دا شوم هدف ترلاسه نشواي کړاي ،

او همدا وه چه هغوی داسلام او مسلمانانو پر خلاف دیوی بلې جګړې تیاري پیل کړه ، او تر څو له نوي فکر او تازه پوځ سره رابانندې حمله وکړي او داسلام دختمولو په لاره کې یوبل ګام اوچت کړي .غربي عسکرو به چې کله داسلامي ملکونو دښکیلولو پخاطر دجګړې جامه اغوستله نو ویل به یې :

موري .... عبادت دپوره کړه ... ژړا مه کوه .. وخانده او هیله منه اوسه ... زه طرابلس ته ځم ... ډیر خوښ او خوشحاله یم ...

ددې ملعون امت (العیاذ بالله اسلامي امت یادوي -ژباړن) دله منځه وړلو لپاره خپلې وینې تویوم داسلامي دین په خلاف جنګیږم ... دقران دمحوکولو پخاطر خپل تول توان خرڅوم(١) ...

دکینې دا توری لښکري دتاریخ تر تولو بدنامو واکدارانو تر مشرۍ لاندې هغه پر مسلمانانو باندې بریالي شوی... هغوی یې وځپل او له مینځه یې یووړل .

هوا دغرب دې لښکرو برې ومونډ ، خو له برې نه وروسته هغوی داسې څه وکړل چې په خوله نه راځي... جوماتونه يې ونړول ، ځينې يې په كليسا گانو بدل كړل، دمسلمانانو كتابتونونو ته يې اور ورته كړ...

مسلمانان ئې ژوندي وسيځل او...

ددې پخاطر چه خبره مې لنډه كړې وي ، غواړم په اسلامي غم ځپلې نړۍ باندې دغربيانو له لاسه شوو ظلمونو يو څو مثالونه پخپله دغربي ليكوالانو له خولې نه درته واوروم :

١- په اندلس كې :

دوكتوره سچريدهونكه وائي:

د(١٤٩٢) ميلادي كال دجنوري په دوهمه نيټه كاردنيال (دبيدر) دناصري كورنۍ دشاهي ماڼۍ په سرباندې سور صليب ودراوه ،او پدې سره ئې په اسپانيا كې دمسلمانانو حكومت ختمولو اعلان وكړ .

اوهغه عظيم تمدن چه دمنځنيو پيړيو په اوږدو كې ئې په اروپا باندې حكومت كاوه له مينځه يوړ مسيحيانو له مسلمانانو سره پخپلو تړونونو باندې ډيره لږ موده وفا وكړه ،

اود اسلامي ثقافت دله مينځه وړلو لپاره ئې خپلې هلې ځلې گړندې كړې . مسلمانان يې له اسلام نه منع كړل ، اودائي ورباندې وتپل چه بايد اسلام پريږدي نور په عربي ژبه خبرې ونكړي ، عربي نومونه او جامې بدلې كړي ، او كه چابه دا نه منل نو بيا به له ډيرو كړاوونو وروسته ژوندي سيځل كيده(٢) !

داسپانيا مسلمانان چه شميره ئې په ميليونونو وو پدې ترتيب سره له مينځ لاړل او هلته يو مسلمان ليدل هم گرانه خبره وه. دا پوښتنه هم بې ځايه نده چه مسلمانان هغه وخت څه ډول ربړول كيدل؟...

نو ددې په ځواب كې به دهغه وخت شكنجه ځايونو په هكله لانديني خبرو ته غوږ شو !

په (١٨٠٨) كال يعنى داندلس له سقوط نه څلور پيړۍ وروسته ناپليون خپل يو شمير لښكرې اسپانيا ته واستولې ، او په هغه ځاى كې دشكنجه ځايونو دلغوه كولوفرمان ئې صادر كړ .

يو فرانسوي منصبدار پدې هكله وائي : خبرراغلې ؤ چه په فلانې خانقاه كې دشكنجې او ربړولو يوه اډه وجودلري . مونږ دهغه ځاى دتلاشي او پلټلو لپاره داړه واچوله ټوله خانقاه مو سرتر پايه وكتله...

خوهيڅ مو هم نه مونډل ، نو اراده مو وكړه چه ووزو، دپلټلو په دوران كې هر راهب راځي قسمونه يادوي چې دلته دشكنجې لپاره هيڅ ځاى او ځايگى نشته ، داټول دروغ اوتورونه دي چې پدې خانقاه پسې تړل شويدي دراهبانو مشربه هم دخپلې پاكې په هكله داسې دعذر او زاريو خبرې كولې چې زړه به موږې وخوږيده ، سربه يې ښكته نيولى ؤ او نژدې به وه چه له سترگوئي اوښكي راوانې شي..

پدې وخت كې (تورن) «دى ليل » راوړاندې شو اوراته وئې ويل : ډگروال ، اجازه راكوى چه ورته ووايم : زمونږ وظيفه پوره نده ترسره شوى ؟اورته ومې ويل : خانقاه مو ټوله ولټوله ، هيڅ مو هم پكې ونه مونډل ، نواوس (تورن) څه غواړي ؟! وئې ويل :

زړه راته وائي چه هر څه تردې خانقاه دلاندې دي بايد ددې غولې ولټول شي .

راهب وارخطا زمونږ خواته وكتل ، ماهم منصبدارانو ته اجازه وركړه چه دخانقاه غولې ولټوى ،

(تورن) عسكروته امروكړ چه داقيمتي قالينې (غالي) ټولې كړي ، اوبيا دهرې كوټې په غولې باندې زياته اندازه اوبه واچوى . اوبه يې واچولې كه گورو چې ديوى كوټې په غولې ورننوتې «تورن»

«دى ليل» له ډيرې خوشالۍ نه چيغه وكړه او وئې ويل : داده دروازه ، وگورى وموكتل چه يوه دروازه ده چه دغولې له مخ سره يو شانته جوړه شويده ، اوديوى

کوچنی حلقی پواسطه چهد خانقاه رئیس ترخوا ایښودل شوی وه بیرته کیدله . عسکرو دروازه دټوپکونو په قونداغونو ووهله اوماته ئی کړه ، د راهبانو رنګونه وتښتیدل دروازه ماته شوه او ومولیدل چه دځمکی زړه ته یوه اوږده زینه کوزه شویده . ژرمې هغه له یوه مترنه اوږده شمعه چه دپلتنو دیوه پخوانی رئیس د تصویر مخی ته بلیده راوخیستله ، پدې ترځ کې یوه راهب خپل لاس زما په اوږو کیښوداوپه ډیره عاجزی سره ئی راته وویل : زویه ، دامقدسه شمعه پخپلو مردارو وینو لړلو لاسونو مه اخله . ورته ومې ویل :

نه ښائی زما لاسونه ستاسی پدې مرداره اودمظلومانو په وینو ککړی شوی شمعی باندی مردارشی ، اوس به په ډاګه شی چه څوک مردار دی؟ او څوک وژونکی او وینی تویونکی دي ؟!...

۲- په زینه ورکوز شوم ، منصبداران اوعسکر وروسته راپسی راتلل . دزینی بیخ ته چه کوز شوم که ګورم چه یوه لویه کوټه ده ، چه دا ددوی دتحقیق (محکمه) وه دکوټی په مینځ کې دمرمرو یوه ستنی هم وه چه یوه اوسپنیزه کړی وربانـدی ځړیدله په کړی کې دبندیانو دتړلو پخاطر ځنځیرونه هم پراته وو . دنوموړی ستنی په مخ کې یو تخت غوندی ځای هم ؤ چه دمظلومانو دمحاکمی په وخت کې به دمحکمی رئیس او قاضیان وربانـدی کیناستل ، لدې نه وروسته هغه کوټوته ورننوتو چیرته چه به انسانی هډونه پری کیدل ، هډوکی به اوره کیدل، داکوټی ډیری پراخه وی ، او داسی څه مو پکی ولیدل چه دژوند ترپایه به می زړه رپیدوی . داسی کوټی مو ولیدلی چه دانسان دبدن په اندازه جوړی شوی ، ځنی ئی عمودی او ځنی نوری ئی افقی پرتی وی ، په عمودی کوټه کې بندشوی بیچاره انسان به ترهغه په پښو ولاړ ؤ چه ترڅو به یې مرګی سرپه دیواله نه ؤ لګولی ، اودافقی کوټی بندیوان به ترهغه اوږد پروت ؤ چه څو به یې ساه له خولی څخه نه وه وتلی ، بیا به دا مړه شوی جسدونه هملته ورسیدل ، غوښه به ئې له هډوکو تویېده او چنجو به خوړه . ددې پخاطر چه دابد بویونه لږ څه کم شی نو دکوټی په پورتنی برخه کې به ئی یو سوری هم ایستلی ؤ.

دلته موداسی مړه جسدونه هم ولیدل چه لاتراوسه په ځنځیرنو تړلی وو، بندیانو ښځی اونرګد وړ و،

اوعمرونه ئی د(۱٤) او(۷۰) کلونو ترمینځ اټکل کیدل .

ډیر بندیان مو دژوند په وروستیو لحظاتو کې له مرګ نه وژغورل . زیات شمیرډیرو شکنجو له کبله لیونیان شوی وو، هغوی ټول لوڅ اولغړ وو.

اوزمونږ سپاهیانو ځینو ته خپل چادرونه ورکړل او هغوی ئی وربانـدی پټ کړل .

لنډه داچې ژوندی بندیان مو په تدریجی توګه له تیارونه رڼا ته راوایستل ، ترڅو رانده نه شی ، هغوی له ډیری خوشالی نه ژړل ، دسپاهیانو لاس او پښی ئی مچی کول ، ځکه همدا سپاهیان ووچه هغوی ئی له عذاب نه راحت اوله مرګ نه ژوند ته راایستلی وو، که رښتیا ووایم نودایوه داسی صحنه وه چې له لیدلو یې پرسی هم چاودیدی.

پدې پسی نوروکوټوته لاړو، هلته مو لدینه هم زیات زړه دردونکی شیان ولیدل ، دشکنجی ورکولو رازراز وسایل موپه لاس راغلل ، چې ځینی یې داسی ؤ چې هډوکی به پری ماتیدل ، هغوی به پدې الی سره لومړی دبندی دپښو هډوکی ماتول ، بیا به یې دسینی وریسی دسراولاسونو هډوکی میده کول ، اوپدې ترتیب سره به له مظلوم بندی نه یوازی اوړه شوی هډوکی اوکوفته شوی غوښی او سری وینی پاته کیدلی اوبس .

یوداسی صندوق موهم ومونډ چې

پوره دانسان دسرپه اندازه جوړشوی ؤ ، دې ظالمانو به پدې صندوق کې دبندیوان سرایښود ، خولومړی به یې دهغه لاسونه اوپښې کلکې تړلې ترڅو حرکت ونه شي کړای ، دصندوق په پاسنی خواکې واړه ،واړه سوري جوړشوی ؤ ، اوله دې سوریو به دبندي په سرباندې په هره دقیقه کې یو څاڅکی یخې اوبه ورڅڅیدلې ، اودمظلوم سربه تر مرګه پورې په همدې صندوق کې پاته کیده ، اوډیر کسان به له مرګه نه مخکې لیونیان کیدل .

دشکنجې یوه بله اله دتابوت په شکل جوړشوی یوصندوق ؤچه ډیرې تیرې اوږې کوونکې چړې پکې نصب شوي وې ، بندي به یې پدې تابوت کې اچاوه اوبیا به دتابوت سرورپسې بنداوه ، اوچې کله به دتابوت دروازه بندیدله نودبندي بدن به په همدې تیروچړو باندې ټوټه ټوټه کیده .

دبړبولو لپاره یې دلوڅې په شان الې هم جوړې کړې وې ، پدې سره به یې دبندي ژبه رانیوله اوراایستله ، اوپه همدې سره به یې دبندي شوو ښځو سینې هم رانیولې اوبیا به یې پرې کولې .

اوسپنزې اغزي لرونکې قمچینې هم وې ، چې بندي به یې لومړې برېنډ کاوه اوبیابه یې پدې قمچینوسره ترهغه واهه چې غوښې به یې ټولې تویې شوې اومات هډوکی به یې پاته شول(۳) .

داؤله مخالفو ولو مسیحیانو سره دمسیحیانو چلند ، څوك چې داولولې نوپخپله به قیاس وکړې چې له مسلمانانو سره به څه ډول کړه وړه اومعامله وکړې ؟!...

۲- داسلامي ملکونو شکنجه ځایونه :

دشکنجې داغیرانساني دوداودولونه اسلامي ملکونو ته هم رانقل شوي دي ، اودلته یې ظالم واکداران په مظلوموولسونو عملي اوپلي کوي .

په یوه اسلامي ملك کې دمجاهدوعالمانو دربړونو کیسې یو عیني شاهد داسې بیانوي :

له یوې ورځې شکنجې اوربړونو وروسته جلادانو په وهلو وهلو خپلو بندوکوټوته بوتللو ،اوهلته یې راته وویل : دیو بلې سختي ورځې لپاره تیاراوسې ... سبا سهار دوخته جلادامروکړ چې ژرراووزې موږبه پخپلو کوټل شوو پښو دیرزووراوست چې حرکت وکړې ترڅو دجلادانو له قمچینوته سرپناکړو .

په یوه پراخه شګلنه دښته کې یې ترسرلړلاندې دوبړو سکرودیوه لوی انبار ترخوا ودرولو ، سکروته یې اوروورته کړ ، دسکرو ددې انبارترخوا په دربو ستنو ولاړیو یوړیك هم جوړشوی ؤ سکاره سوراورشول ، په همدې وخت کې موښکنځلې ترغوږوشوې که ګوروچې پنځه کسه پیره داران یو ځوان راکش کاږي ، هغه موږپیژانده اونوم یې «جاوید خان »ؤ اونوموړي ددې ملك له عالمانو څخه ؤ .

ددې سره سم دلیونو سپو غپیده هم په فضا کې خوره شوه ، لسوکسانو دوه لیونې سپې ترږې نیولې ؤ ، چې دهرسپي لورالې یومترؤ ، وروسته بیا خبرشوو چې دا سپي دوه ورځې وږې ساتل شوي وو.

جلادانو ځوان جاوید داورلمبو ته ورنژدې کړ سترګې یې تړل شوي وې ، موږسل کسه بندیان وو، او(۱۵۰) وسله بندو سپاهیانو راباندې پیره کوله ، لس کسان جاوید ته ورغلل اوهغه یې په ځمکه کیناوه ، اوپه سینه پورې یې یو مثلث دوله لرګې کلك وروتاړه ترڅوله ځمکې نه اوچت نه شي ، بیا یې پورته کړ اوپه سرو سکروتو یې ورکیناوه ، یوه چیغه یې وکړه اوبې هوشه شو .

له موږنه هم نیمايي کسان بیخوده شول ، ځینې نورو چیغې وهلې ...

دجاوید وریت شوو غوښو بوینونه تراسمانه اوچت شول ، خوزما قسمت داسی ؤ چی بیخوده نه شوم ډیر زیات مې ژړل ...

اوددې زړه ویلیونکی کیسی دیادونو شاهد وم .

هغوی بی خوده شوی ځوان جاوید رااوچت کړ اودلرگی په دریو ستنوولاړ پك یې ورواچاوه اوبیا یې ټینگ وتاړه ، نوبی هغه دوه وړی سپی ورخوشی کړل ، نورنوزه هم په ځان نه یم پوه شوی اوبی خوده راپریوتم ...

زه بیا هغه وخت په ځان پوه شوم چې پخپله تنگه کوټه کې دلیونی په شان چیغی وهم ...جاوید ...جاوید ...جاوید ای جاویده سپیو وخوری ...جاوید ...جاوید دبندیخانی ملگرو مې خوله راپټوله ځکه ویریدل چې که جلادان زما چیغی واوری نوزه به هم لکه جاوید داسی شم ، اویا به دشاهان خانی په لاره لاړشم نوموړی دهستریا په بیماری اخته شوی ؤ اودجاوید ...جاوید ...چیغی به یې وهلی ، بیا جلادانو رانیولی وو اوپه شایی یو بیرل چې ترنیمایی پوری له ریگ نه ډك و ورایښودلی ؤ ، بیا یې په اغزی لرونکی سیمانو (تارونو) کش کاوه اوپدې ترتیب سره یی بدن زرتوتی شو اوله فانی دنیا نه یې رخصت واخیست ، دنوموړی مظلوم ورروستی خبره داوه الله اکبر ، ظالمونو یوه ورځ به موحتماً رانسکوروو... زه بیرته بی خوده شوی وم ، یو وخت گورم په روغتون کې پروت یم اوزموږدوطن سفیرمې په سرپوری ولاړو اوراته ویل یې څنگه یی ؟ ان شاء الله مخ په ښه کیدو یی ...اوزیاته یې کړه که ته مسافرنه وای نوبیا هیڅاهم نجات نه شوای در کولای ... بیا یی پوښتنه رانه وکړه چی رښتیا راته ووایه چی داجاوید څوك دی چې تایی نوم اخیسته ؟ کیسه می ورته وکړه ... مخ یی دومره زیړ شو اونږدی وه چی بی خوده راپریوزی.

موږلاخبری نه وی خلاصی کړی چی دپولیسو یومنصبدار راننووت اولدې ملك نه دفوری وتو امریی راته راکړ سفیر ډیری هلی ځلی وکړی چی زه دلته یوڅوورځی نورهم پاته شم ترڅوصحت مې لږ غوندی ښه شی ، خوهرڅه بی فایدی وو په یوه بیړی کې یې کسبنیولم اودخپل وطن بندرته یی ورسولم ، زما لا تراوسه دروغتون جامی په غاړه وی ، هیڅ می نه درلودل چې خلکو ته پری ځان ورپیژنم ، نوخپل کورته مې تلیفون وکړهغوی راغلل لومړی یې ونه پیژندلم ، بیا یې روغتون ته بوتلم دری میاشتی هلته پاته شوم ، داتهوله موده به مې ژړل ، په دې ترتیب سره الله تعالی روغتیا راپه برخه کړه ...

داعینی شاهد خپله کیسه داسی پای ته رسوی داهم باید درته ووایم چی دنوموړی بندیخانی مدیر یو یهودی ؤ ، دشکنجی مسوول یوجرمنی ؤ ...

داوه دیوه اسلامی ملك دواکدارانو دکړو یوه کوچنی نمونه. نوربیا

١- القومیة والغزوالفکري
ص :(٢٠٨).
٢- القومیة ص :(١٧٤)
٣-محکمه التفتیش للدکتورعلي
مظمرص :(٣١١-٣١٨)

الحاج مولوي جلال الدين حقاني دمنبع الجهاد سره په مرکه کي :



دقوماندانانو دسرتاسري شورا په فعاليدودجهاد صفونه تر ډيره حده منظم شوي اوپر دښمن دګډو اوسترو حملو لاري چاري اواري شويدي

پوښتنه : - محترم حقانی صاحب دکابل دمزدوررژيم دژرنسکوريدو په هکله ستاسی طرحه څه ده ؟

ځواب :- بسم الله الرحمن الرحيم نحمده ونصلی علی رسوله الکريم زما په فکر دروسانو دمزدوررژيم دژرنسکوريدو لپاره ډيره مؤثره طريقه دمجاهدينو خپل منځی يووالی اووحدت دی ځکه چی دهمدغه وحدت په وسيلهٔ به مجاهدينو کی بشپړ نظم اوقوت پيداشی که چيری مجاهدينو اتحاد اواتفاق درلودی دکابل کمونست رژيم به لادروسانو له وتلو سره سم له منځه تللی وای .

اوس چی دافغانستان دقوماندانانو سرتاسری شورا جوړه شوی ده ، ددغی شورا ستراومهم اهداف دمجاهدينو ترمنځ اتحاد اويووالی او په مجاهدينو کی دنظم راوستل اوپر يو وخت پردښمن باندی عمليات سرته رسول دی،انشاالله په دغه حرکت سره به دروسانو مزدوررژيم په ډيرکم وخت کی سقوط وکړی .

پوښتنه :- داسی اوازی خپری دی چی دنجيب مزدوررژيم دقندهار ښارخالی کوی ، ترڅو هلته يوه لويه جرګه جوړه شی اوبيا دلويی جرګی په وسيله دافغانستان دراتلونکی حکومت لپاره زعامت وټاکی ، تاسی په دی باره کی څه نظر لرئ ؟

ځواب :- نجيب دمخه هم دروسانو په دستور اوقومانده دی ته ورته پروګرامونه رامخی ته کړی دی ، داچی ولی اوڅنګه عملی نه شول بيل عوامل لری ، ددی ټولو پروګرامونو نه دروسانو هدف دادی چی ترڅو خپل ګوډاګيان (خلقيان اوپرچميان) له پوښتنی اومحاسبی څخه وژغوری،دخپل ملحد ګوند اودلی ټپلی موجوديت په افغانستان کی خوندی وساتی .

خوزه داويلی شم که داډول



پروگرامونه عملی هم شی اودهغو په نتیجه کی کوم حکومت اوزعامت رامنځ ته هم شی دافغانستان مجاهد ملت ته په هیڅ شان دمنلو وړنشی گرځیدلی او پرضد به یی ترهغه پوری وسله وال جهاد جاری وی ترڅو چی په افغانستان کی یو سوچه اسلامی حکومت منځ ته نه وی راغلی .

پوښتنه :- دمجاهدینو اوسنی سیاسی اونظامی وضعه څه ډول ارزیابی کوئ ؟

ځواب :- له کله نه چی دمجاهدینو په مشرانو کی ځان غوښتنی رامنځ ته شوی ، دهغی له امله دمجاهدینو په سیاسی وضعه کی څه ناڅه نیمگړتیاوی رامخی ته شوی دی ، په دی دومره موده کی دمجاهدینو مشرانو ونشو کولی چی پخپل منځ کی واقعی اتحاد وکړی ، نودغو بی اتفاقیو دجهاد اومجاهدینو سیاسی حالت پوره زیانمن کړی دی ، موږ الله (ج) ته سوال کوو چی زموږمشرانو ته داتحاد توفیق ورپه برخه کړی که دمجاهدینو مشران سره متحد شی بیانو دسیاسی وضعی دکمزوری پوښتنه نه رامنځ ته کیږی .

ترکومه چی خبره په نظامی حالت پوری اړه لری ، دقوماندانانو دشورا په رامنځ ته کیدو سره دجهاد صفونه ترډیره حده منظم شوی اوپردښمن باندی دگډو اوسرتاسری حملوکولو لاری چاری ا واری شوی دی چی دخوست اوسنۍ جگړه زموږددی ادعا ډیرښه ثبوت دی سره له دی چی ځینو جهادی مشرانو خپل ځینی قوماندانان دی ته هڅولی چی پدغو عملیاتو کی برخه وانخلی ترڅو داجگړه له ناکامۍ سره مخامخ شی ولی له دغه وړهلو ځلو سره سره ټول جهادی قوتونه په دغه پروگرام کی برخه اخلی ، اوانشاالله چی فتحه

به مو په نصیب شی .
په عامه توگه په دی وروستیو وختو کی دمجاهدینو په نظامی وضعه کی تغیرات راغلی چی یو شمیر یی دلته په گوته کوو:
دژنیو دمعاهدی دلاسلیك کیدو څخه وروسته په ځانگړی توگه په پاکستان کی دپیپلزگوند دحکومت په رامنځ ته کیدو سره له مجاهدینو سره په مرستو کی پوره کموالی راغلی - دایران په موقف کی بدلون :ایران هم اوس له روسیی اودهغه دمزدوررژیم سره دوستی پیل کړیده .
ځنی جهادی مشران چی دروسانو دموجودیت په وخت کی یی په جهادی فعالیتونو کی برخه اخیستله خودروسانو له وتلو څخه راوروسته دقدرت نیولو لپاره په پتمو اوښکاره هلو ځلو اخته دی ، په جهاد کی یی برخه اخیستنه بیخی کمه شو ی ده .
دخلیج جگړی هم دمجاهدینو په نظامی وضع څه ناڅه تاثیرکړی ځکه هغه مرستی چی داسلامی هیوادونو له خوا مجاهدینو سره کیدلی په ټپه ودریدلی .
له افغانستان څخه دروسانو ترتښتیدو وروسته له مجاهدینو سره دنړیوالو دمرستو کموالی ځکه چی ددوی خو هدف دروسانو وتل ؤ نه په افغانستان کی داسلامی حکومت جوړیدل .

> دروسانو هدف دادي ترڅو خپل گوډاگيان (خلقيان اوپرچميان) له پوښتني اومحاسبي څخه وژغوري .

پوښتنه :- دمزدوررژیم اوسنی سیاسی وضع څنگه ارزیابی کوئ؟
ځواب :- دغربی راډیوگانو داتبلیغات چی نجیب په سیاسی ډگر کی څه ناڅه پرمختگ کړی او په دی برخه کی له ایران سره دهغه داړیکو دښه والی او پاکستان ته داړیکو دښه کولو وړاندیز مسله مثال راوړی،غلط او بی ځایه دی دروسانو دمزدور رژیم سیاسی وضعه ډیره خرابه ده ځکه چی روسان هم نور مرسته ورسره نشی کولی هغوی اوس پخپله له یوستر اقتصادی او سیاسی بحران سره مخامخ دی نو له خپل مزدور رژیم سره به څه ډول مرستو ته دوام ورکړی .
پوښتنه :- پر خوست باندی دمجاهدینو داوسنۍ حملی په باب که څه معلومات راکړی ؟
ځواب :- مجاهدینو پرخوست

دمنبع الجهاد
البم









باندی دیوی پراخی حملی لپاره تیاری نیولی دی -فتحه او بری داللـه (ج) په لاس کی دی .دخوست ښار خوله دیری مودی راهیسی دمجاهدینو تر محاصری لاندی دی اوس مجاهدین غواړی دغه دمحاصری کړی نوره هم پسی تنگه کړی ترڅو هغوی مجاهدینو ته په تسلیمیدو مجبورشی .ترکومه چی خبر ه په خوست باندی داوسنی حملی او عملیاتو پوری اړه لری ا وس دغلته مجاهدین شپږ شوراگانی لری او دغه شوراگانی په خپل راُس کی یوه لویه نظامی شورا لری چی (۲۹) تنه غړی لری او ټول جنگی پلان دهمدغه شورا په لاس کی دی دلویی شورا دغړیو له جملی څخه اووه تنه دغه عملیات اداره کوی .

> **دکابل ترفتحه کیدو دمخه باید دهري چاري دسمبالولو اوکنترول کولو لپاره مسؤولین وټاکل شي ترڅودناوړه پیښو اوگډوډیو مخه ونیول شي اوستونزي اومشکلات رامخي ته نشي**

پوښتنه :- دقوماندانانو دشورا دنوو فعالیتونو په برخه کی معلومات راکړی .

ځواب :- دقوماندانانو دشورا کاراوفعالیت په بری سره پرمخ روان دی .

دمثال په توگه دخوست داوسنیو عملیاتو لپاره هم کیدای شی دقوماندانانو دشورا یو هیئت راشی په غزنی اوقندهار باندی هم دیوی ستری حملی کولو لپاره دیو عمومی پلان په جوړو لو بوخت دی،دغسی په کابل باندی هم دیوی لویی اوعمومی حملی پلان ترلاس لاندی دی ، چی البته داکار به په مناسب وخت کی چی موسم مساعدشی عملی او ترسره شی ، اوس دقوماندانانو شورا داهلی ځلی کوی چی په کابل ترحملی دمخه باید داکمالاتو لاری چاری هم برابری شی ، دنورو سیمو مجاهدین باید په کابل باندی

دحملی لپاره په مناسب وخت کی دعملیاتو لپاره دقوماندی واحده اداره جوړه کړی دمخه بایددجهادی مشرانو سره په مصلحت اومشوره داسی یوه اداره اواتفاقی تشکیل جوړ شی چی دنجیب دړژیم له زوال اونسکوریدوڅخه وروسته حالات په کنترول کی راولی ترڅو دکابل له فتحی څخه وروسته دمجاهدینو ترمنځ او دغسی دعامه اوسیدونکو ترمنځ شخړی اولانجی مینځ ته رانه شی .

یعنی دکابل ترفتحه کیدو دمخه باید دهری چاری دسمبالولو اوکنترول کولو لپاره مسوولین وټاکل شی ترڅو دناوړه پیښو اوګډوډیو مخه ونیول شی او ستونزی اومشکلات رامخ ته نه شی ، نو دقوماندانانو شورا اوس ددغه لارو چارو دتنظیم، ترتیب اودخپل منځی شخړو دله منځه وړلو اوپه ټول هیواد کی پردښمن باندی د هماهنګو عملیاتو دپلان جوړولو لپاره په کاراوفعالیت بوخته ده.

پوښتنه :- په پای کی که په عامه توګه دنړی مسلمانانو ته اوپه خاص ډول دافغانستان مجاهدینو ته څه پیغام لری .

ځواب :- په عامه توګه دټولی نړی مسلمانانو ته زما پیغام دادی لکه څنګه چی یی دمخه دافغانستان دجهاد ننګه اوملاتړ کړی ،اوس دی هم هماغسی خپلی ننګی اوملاتړ ته ادامه ورکړی څکه اوس هم دخدای په کتاب اواجتماع دامت مسلمه له مخی دملحدینو سره هماغه شان جهاد فرض دی لکه چی دمخه فرض ؤ اوس هم باید ورسره دټولی نړی مسلمانان دپخواپه شان دلچسپی ولری او که دچا دمال له لاری په وس پوره وی اوکه دقلم اوژبی له لاری په دی جهاد کی برخه واخلی مرسته اوملاتړ یی وکړی .

بله مهمه خبره داده چی مسلمانان باید په هروخت اوحالت کی خپل اسلامی مسوولیت اومکلفیت وپیژنی اوترهغه دی دریغ نه نیسی چی په یو مسله کی یی داسلامی

شریعت حکم نه وی پیژندلی ، لکه ثنګه چی څو ورځی دمخه دنړی ډیر مسلمانان په یو سیاسی جال کی راګیر شوی وو اودخلیج په موضوع کی تیروتی وو اوځینو خلکو داسی قضاوت کاوه چی صدام په حقه باندی دی ، هغه یو مجاهد دی؛ددی کار لپاره یی په مظاهرو لاس پوری کړ ، دهغوی لپاره یی دپیسو اواعانو په راجمع کولو شروع کړی وه مثلا داکوم ظلم چی په دی څلویښت یا زیات اوکمو ورځو دجنګ دبمباری له امله امریکا په عراق یا عراق په کویت باندی دحملی په وخت کی کړی له دی نه خو روسانو اوملحدو کمونستانو په دی تیرو دوولسو کلونو کی دافغانستان په مجاهد ملت څوچنده زیات ظلمونه اوبمباری کړی دوی هغه وخت ولی داسی مظاهری نه کولی ، ولی یی افغانانو ته وینی نه جمع کولی

موږخو نه په ایران کی مظاهره ولیده اونه په پاکستان کی که ددوی هغه وخت وسه نه کیدله ، دروس له ویری یی مظاهری نه شوی کولی، اوغلی ناست و نواوس هم باید غلی ناست وای که له صدام سره ددغو خلکو ملاتړسیاسی نه وای اوشرعی وای نواوس خو صدام مغلوب شو ، وطن یی هم وران شو اقتصادی بندیزهم پری لګیدلی دی داخود هغه بمباری نه هم لاپسی

سخت دی اوس ولی دغه خلك دهغه ملاتړنه کوی نو ددی نه دامعلومیږی چی دوی په یو سیاسی جال کی راګیرشوی وو نوپه دغسی سیاسی مسایلو کی دقضاوت لپاره باید مسلمانان دخپل ځان لپاره اسلامی مسوولیت معلوم کړی ، د اسلام حکم وپیژنی اوبیا عمل وکړی .په خاصه توګه مجاهدینو ته زما پیغام دادی چی په دی حساس وخت کی چی زموږ اسلامی انقلاب دبری پولی ته نږدی شوی ، خپل منځی وحدت ته زیاته پاملرنه وکړی ، خپل اسلامی مسوولیت اومکلفیت په ښه توګه درك کړی ، ددښمن په توطئواو دسیسو تیرنه وځی اوترهغی خپل وسله وال جهاد ته ادامه ورکړی چی په افغانستان کی دمجاهدینو په لاس یواسلامی حکومت جوړاودالحاد اوفساد جرړی له بیخه ووځی. والسلام

روسیه د ټوټي ټوټي کيدو په درشل کې

عوض الدین «صدیقی»

دروسیي په (۷۳) کلن تاریخ کی به دلومړي ځل لپاره دمارچ په «۱۸» انتخابات وشي چی په ترځ کی به یی د«۱۵» ریاستونو خلك دراپی له لاری دافیصله وکړي چی په کامله توگه دی آزاد واوسیږی که دروسیي سره دیوځای خپل ژوند ته دوام ورکړي.

گورباچوف تر هغی وروسته انتخاباتو ته مجبور شو چی په نړی کی دکمونیزم تهغر ورتهول شو، دلیتوانیا، لیتویا، استونیا او .... ریاستونو دآزادی غوښتنی غږ اوج ته ورسید، دخبرو له لاری هغوی آرامه نکړای شول، اومجبور شو چی دهغوی دآراموالو لپاره روسیي پوځونه ورلیږی، گورباچوف دانتخاباتو داپروگرام ددی لپاره نه دی اعلان کړی چی واقعاً یی هغوی ته ددی حق ورکړی ترڅو خپل راتلونکی په خپله خوښه وټاکی بلکی غواړي له دی لاری په اصطلاح په قانونی توگه دهغوی دآزادی غږ په ستونی کی خفه کړی، ځکه هغه نه غواړي دروسیي په تاریخ کی دیوه داسی مشر په حیث وپیژندل شی• چی دده په دوران کی روسیه ټوټی، ټوټی شی، اوبل دا چی هغه پوهیږی چی داکار به ټولوریاستونو ته دالاره پرانیزی چی هر وخت وغواړي ځان جلا کولی شی. گورباچوف اوس غواړي له دی لاری دروسیي کورنی ناآرامی آرامی کړی هغه دخپل دی پروگرام دعملی کولو لپاره د (۱۹۹۰) کال د دسمبر په میاشت کی دپارلمان څخه منظوری هم واخیسته، خو د بالتیك ټولو ریاستونو اوجارجیا ریاست دگورباچوف دانتخاباتو دا پروگرام غندلی، او خلکو څخه یی غوښتی چی په دی انتخاباتوکی برخه وانخلی تر څو دگورباچوف دادمکر ډك، پروگرام ناکام شی، خوگورباچوف دخپلی هغی وینا په ترځ کی چی دفبروری په «٦» یی دروسیي خلکو ته واورولە، دخلکو نه غوښتی چی په دی انتخاباتو کی برخه واخلی، دمرکزی حکومت لوړ رتبه مامورین وایی دبالتیکی ریاستونو دبرخی نه اخستنی سره سره به داانتخابات په بریالیتوب سره سرته ورسیږی ځکه چی داکثرو کارخانو او فابریکو واك دمرکزی حکومت دنامزدو افرادو په لاس

دلیتوانیا حکومت دمرکزی حکومت دانتخاباتو دپروګرام دناکامولو په خاطر دفبروری په «۹» انتخابات هم وکړل چی ددی ریاست «۹۰» فیصده خلکو پکی برخه واخیسته او تولو په قاطع اکثریت دخپلی آزادی دلاس ته راوړلو په طرفداری رایه ورکړه

کی دی او انتخابات هم په همدی ځایونوکی کیږی په دې خاطر ددی ریاستونو دبرخی نه اخستنی داعلان سره سره به خلك برخه پکی واخلی خو ددی پرعکس دبالتیکی درياستونو لوړ رتبه مامورين وايي خلك اوس پوهیدلی ، په هیڅ صورت به دمرکزی حکومت په دی لومی کی ونه نښلی ، ددی انتخاباتو پرضد دبالتیکی ریاستونودخلکو او حکومتونو تر تولو لوی اعتراض دادی چی په هغوی کی دقاطع اکثریت شرط ایښودل شوی چی دهغی له مخی به د لیتوانیا خلك چی خاص دلیتوانیایانو شمیر په کی په سلو کی «۸۰» دی اوپاتی نور یی روسی یا دنورو ریاستونو خلك دی دآزادی حق لاس ته راوړی خو لیتویا چی تقریباً دیرش پنځه دیرش فیصده پکی روسان او «۱۵» فیصده دنورو ریاستو خلك دی او ایستونیا هم چی همدا حال یی دی اصلی اوسیدونکی که دآزادی لاس ته راوړلو په پلوی رایه ورهم کړی بیاهم قاطع اکثریت لاس ته نشی راوړی ځکه چی مرکزی حکومت هلته له پخوا څخه زیات شمیر روسان او دنورو ریاستونو خلك میشته کړی او په دی دول دروسیی دقانون په اساس آزادی لاس ته نشی راوړی له همدی امله دی چی دبالتیکی ریاستونو حکومتونو اوخلکو داانتخابات رد کړی او په دی دول یی نړیوالوته دا ثابته کړی چی هغوی دروسیی او مرکزی حکومت

دبالتیکی ریاستونودخلکو او حکومتونو تر تولو لوی اعتراض دادی چی په هغوی کی دقاطع اکثریت شرط ایښودل شوی چی دهغی له مخی به د لیتوانیا خلك چی خاص دلیتوانیایانو شمیر په کی په سلو کی «۸۰» دی اوپاتی نور یی روسی یا دنورو ریاستونو خلك دی دآزادی حق لاس ته راوړی

په لومو کی نه نښلی .

دلیتوانیا حکومت دمرکزی حکومت دانتخاباتو دپروګرام دناکامولو په خاطر دفبروری په «۹» انتخابات هم وکړل چی ددی ریاست «۹۰» فیصده خلکو پکی برخه واخیسته او تولو په قاطع اکثریت دخپلی آزادی دلاس ته راوړلو په طرفداری رایه ورکړه خو دفبروری په «۵» مرکزی حکومت دا انتخابات غیرقانونی بللی ؤ او ګورباچوف دفبروری «۹» دخلکو څخه دیوی وینا په ترځ کی غوښتنی ؤ چی دی انتخاباتو کی برخه وانخلی ، خو خلکو دګورباچوف له دی اعلان سره سره پکی برخه واخیسته او په قاطع اکثریت سره یی دآزادی په طرفداری رایه ورکړه دلیتویا ریاست هم دمارچ په «۳» انتخابات وکړل چی ددی ریاست تولو اصلی اوسیدونکو پکی برخه واخیسته او په قاطع اکثریت یی دخپلو ریاستونود آزادی دلاس ته راوړلو په پلوی رایه ورکړه د دی

پاتې په۵۱ مخ

درویش دراني

اخری سوغات
دشهید خور

زه چې وړه غوندې ماشومه وم شهیده وروره
تابه له ماسره کوله څومره مینه مدام

تابه زما دپاره داسې سوغاتونه راوړل
چې مې وړه غوندې دنیا وه پرې رنګینه مدام

تابه کولې همیشه ماته خوږې خبرې
تابه ویل راته مدام چې زه وعده درکوم

رنګین سپرلې چې دځوانۍ کله راخورشي په تا
هله به تاته اخرې یوه تحفه درکوم

یوشهزاده غوندې ځلمی، یو وفادارملګری
ځې به له تاسره په ژوند کې لاس ترغاړې مدام

وی تعلق به مو دژبې اوتالو په ډول
دژوند شکرې به په ګډه ځبیښی دواړه مدام

زه چې وړه غوندې ماشومه وم شهیده وروره
خبره نه وم چې ژوند څه دژوند ملګری څه وی

په ماچې وخت دپیغلتوب راغی شهیده وروره
ته دوطن خاورې طلب کړلې دننګ دپاره

رااړولې چې یې ګام وو دهیواد ترپوله
هغه دامن ددښمن سره دجنګ دپاره

تادکورغولې دپالنګ خواږه خوبونه هیرکړل
له تورتوپکه سره تورسنګرته وختلې

تادتاوده نغرې غاړه خورته پرېښودله
لکه شهبازدسرو څوکو سرته وختلې

ډیرې سینې دې دغلبیل په شان سورې سورې کړې
ډیرې مردکې دې سرې کړې ددښمن په وینو

تااوملګروتارپه تارکړې دغلیم لښکرې
داسمان سترګې مومرې کړې ددښمن په وینو

مابه ویل ته به ضروررا ځی شهیده وروره
چی دسرو وینو دغـه لوبه سرته ورسیږی

چی دغلیم ټول ارمانونه شی ترخاوروﻻندی
ستاپه ﻻســونو قامی بوبه سرته ورسیږی

خوتـادوینو نذرانه ورکړه دقام په نامه
له شهیـدانو سره ګډ بلی دنیا. ته ﻻړی

کړل په سینه دی دزخمونو سره لعلونه قطار
په هسکه غاړه دفـردوس جنت وخواته ﻻړی

ستاتورټوپك ، ستادسنګردتورو شپو ملګری
ستادملګروپه ﻻس ، ستاکورته راورسیدی

چی ستادوینو سره خالونه دی پراتـه ورباندی
دغه رنګین غوندی سوغات خورته راورسیدی

تاچـی وماته راليږلی دی شهیده وروره
په دواړو سترګو می قبول داجنتی سوغات دی

داتـــورټوپك به وی زما دژوندانه ملګری
ځکه چی داستاله جانبه اخری سوغات دی

که روښان ستوری داسمان دی که دلمرپلوشی
له ننـه پس به مو تل وینی ﻻس ترغاړه سره

کـه تماشه وی دګلونو که لمبی وی دجنګ
چیرته چه ځونیوبه نه یو ځوبه دواړه سره

ترڅوموژوند په دنیاوی ترڅومووس رسیږی
وفا به کاندویو له بله سره پټ به کوو

وریاندی تـــاچی څڅولی دبدن وینه ده
دخپل وطن ددغی خاوری حفاظت به کوو

خدایه چي دبل په ژړاګانو کې خندا غواړي
ته يي په کاله کي اوښان چوك دماتمونو کړي
چاچي زموږ خوني دغضب په اورلوخړه کړي
ته واړه محروم له خپلو دنګو مـحلونو کړي

لنډه کیسه

اوبانکونه وغورېدل ...!

سید محی الدین هاشمي

هغه ته به دکور خلکو همیشه زاري منت کاوه چې ټول کلیوال لاړل ، موږ به ترکومه په دې شړو کنډوالو کې شپې سباکوو، تاپه دې وران کاشکوټ کی څه لیدلي ، چې زړه دې ترې نه کیږي ، خوفضل ربي کاکا چې به یو ځل خپلې غریبۍ ، بې وسۍ اوورنځونو ځپلی وجود ته وکتل اوبیا به یې بمباریو اودکوردخلکو خبروته پام شو ، ځان به یې د«پاڼ اوپرانګ» ترمنځ ولید.

په دغسې حالت کې دهغه لپاره فیصله کول څه اسانه خبره نه وه ، نوځکه به یې دکورنۍ دخلکو دپوښتنو اوغوښتنو په ځواب کې همدومره ویل چې :«تاسو خو صبروکړئ خدای مهربان دی .... »

له کله نه چې په سرحدونو دروسي قواو دپرېوتو اوازې خپرې شوې وې ، هره ورځ به دکنړ سرحدي سیمه بمباري کیدله ددغو سیمو خلکو په ډله ایزه توګه دهجرت لاره ونیوله . شاړو اوکنډواله اوسېیو کورونو هرڅه دحال په ژبه ویل اودبې کوږشویو خلکو دغم ځپلی حالت ډیرښه ترجماني یې کوله .

فضل ربي کاکا په دې ښه پوهیده چې که روسان اوبیا دهغوی مزدوران ددوی کلي ته نږدې پوستې جوړې کړي،نوبیا دلته ددوی شپې ورځې نه تیرېږي.

اوس نوپه کلي کې دهغه په شان پنځه شپږ کورونه پاتې وو، اوهغوی هم لکه دده په پټیو کې ولاړفصل اوڅارویو ته په دې هیله شپې سبا کولې چې که میاشت نیمه ورسته څومنه غنم په لاس ورشي اوبیا پرې له کومې خوا دڅارویو سوداګر پیښنه وکا چې دهجرت دلارې خرڅ یې برابر شي .

سهاریه لا پوره رڼایي نه وه لګیدلې چې دوی به دخوړلو ، څښلو لپاره څه واخیستل ،مالونه به یې ایله پرېښودل

اوتوله ورځ به يې دبمبـــارۍ له ويرې دغـره په ناوونو اوغـارونو کې تيـروله ، مـازديگر چې به دلمر زرينو وړانګو دکـوزېدنګو غـرونو له څوکـو سره خـداى پامـــاني وکــړه اوالوتکې به دوروستيـو بمونو په غـورځولو سره له سيمې څخه رخصت شوې نودوى به ستړي ستومانه کلي ته راښکته شول اوتردېره ناوخته به دخپلو ترهيدلو ښارويو پسې په ځنګله ، خوړاوناوونو کې لا لهانده ګرځيدل .

نن سهار چې هغوى دنورکله په شان غره ته دختلو په تکل لوی واړه له کلي راوخــوځــيــدل ، هرچادا هڅه کوله چې له بل نه مخکې شي اودځان لپاره مناسب ځـاى ونيـسي ، دوى لاله کلي څـوقـدمـه بهـرنه ووتللي چې ناڅاپه پرله پسې ډزو اوناآشنا غږونو دسکوت فضا ګډه وډه کړه نارې سورې جوړې شوې ، څوك بيرته خپلو کورونو ته ننوتل ، چادغره اوچا دځنګله پرخوا منډه کړه .

لمر لا خـپلې وړانګې دځـمکې پرمخ نه وې خپرې کړې ، څـو الوتکې راورسيـدې اودشـاوخوا سيمـو په بمباري يې پيل وکړ اوورسره ورسره دپرله پسې ډزو په بهــيـــر کې دټانکونو دغرهاردروند غږ هم پورته شو چې شيبــه په شيبـه رانږدې کيده .

فضل ربي کاکا زړه نازړه دکلي مخ ته راووت چې ځـان په حـال پوه کـړي ، چې ددېرې سې څـيـرمـه ديوال له کنډونه يې سرپورته کړ په لاندې پټيو کې يې ټانکونه وليـدل اوچې بيـرته يې دکـور خـواته دستنيـدو تکل وکـړ په کــوڅــه کې يې ناآشنا خلك ترسترګو شول چې په يوه منظمه ليکه دده پرخوا روان وو ، دهغو په ليدو ښه نيولی شو اودبيرته ستنيـدو هڅـه يې وکـړه خـوله هوايي ډزو سره ښدرګه کيدونکو ناآشنا غږونو له هغه نه دتيښتې لاروركه کړه ، پر وجود يې لړزه راغله اوکه ديوال ته يې تکيه نه واى کـړې خـداى زده کـه ولاړ پـاتې شوى واى .

دستـرګـو په رپ کې پرده سـره ورځ جوړه شوه ، چاپه په سوکانو اولغتـو واهه اوچاپه کنداغـونو يوه يې دولـيــــــو پر منځ دکلاشينکوف شپيلۍ کيښوده اوپرمخ يې پورې واهه ، يوه بل يې لاسونه ترشاوتړل ، ده ته يې پخپله ژبه اوقهريدلي لهجه څه وويل ، خـودی پرې پوه نشـو ، يوازې ددښمن ، دښمن کلمی په بيا بيا تکرارولو يې دادرك کړه چې ښنـــــايي لـه ده نـه بـه دمـجـاهدينو اونورو کليـوالو پوښتنه کوي.له ده سره ذهن کې دخان اوخپلې کورنۍ دغږو په باب ډول ډول خبرې ګرځيدې کله به يې دکــورنۍ غـمي بيل بيل مخې ته دريدل اوکله به دخپل ځان په فکر کی ډوب شو چې خداى خبرڅه پرې کوي .

روسي عسکرو په کورونو کې تالان جوړکړی ؤ اوچې څـه يې وړلی شول هغه يې راواخيستل يوه روسي صاحب منصب هغو دوو عـسکروته چې فـضل ربي

کاکایې کلك نیولی ؤ پخپله ژبه څه وویل خوده داسې وانګیرل چې ښایی دایې دده په باب وروستی فیصله وي.اوس نوده په ځان دشهادت کلمه تیره کړه اوسترګې یې پټې کړې ، یو ځل بیا یې دخپلې کورنی غړي بیلا بیلدذهن په پرده تیرراتیر شول ، بیا روسي صاحب منصب ترمخه شو اودوو تنو عسکرو فضل ربي کاکا په ټیل وهلو ټیل وهلو دځنګله پرخوا روان کړ ، دځنګله په یوه ګوښه ځای کې روسي صاحب منصب عسکروته پخپله ژبه څه وویل خودی پرې پوه نشو ، یوه تن دی ونیو اوبل عسکر ولاړ ، څه شیبه وروسته هغه بیلچه په لاس راغی اودځمکې پرکندولو یې پیل وکړ. اوچې ترنامه یې ژوره کړه صاحب منصب دفضل ربي کاکا دوربښکته کولو اشاره وکړه هغه ئې سمدلاسه دغه کیندل شوی ځای ته وروغورځاوه شاوخوا یې پرې خاورې وراړولې اوترنامه یې ښخ کړ

هغه بل عسکر ته یی هم څه وویل فضل ربي کاکا داځل بیا قطعي داسې وانګیرله چې ښایي داځل یې دده دویشتلو امریې ورته وکړ بیا یې پرځان دشهادت کلمه تیره کړه اوسترګې یې پټې کړې ، خوهغسې ونشول اوچې سترګې یې بیرته کړې روسی عسکردتیلو پیپ په لاس راغی پیپ یې لا په ځمکه نه وه ایښی چې څوقدمه وړاندی شور اوزوږ پورته شو اوبیا هغه فضل ربي کاکا ته نږدې ولاړعسکر هغو دووتنو روسي عسکروته دصاحب منصب وړپام کړ چې په یوه کوچنۍ غوته سره نښتي وو اوهریوه خپل خواته کشوله .

صاحب منصب اوعسکر هغې خواته په منډه ورغلل اوچې څودوی ورتلل هغوی غیږ په غیږ شوي وو.

فضل ربي کاکا داټوله صحنه په خپلو سترګو ولیدله چې څنګه صاحب منصب دوی سره خلاص کړل .

په دغه وخت کې ناڅاپه شپیلاق ووهل شو،صاحب منصب اوعسکروټولو منډه کړه اوفضل ربي کاکایې هلته پریښوده ، لږه شیبه وروسته بیا ټانکونه وغریدل،دوړې پورته شوې ، آواز ورو ورو لرې کیده اوبیا ورك شو...!

جرأت جهادگر

تکل

... او هغه په شکرونو شوه

ګولی وچلیدی - ټانکونه وغوړیدل الوتکی وغورځیدی، دمونو اوګولیو ږلی ووریدی ، دوړی اولوګی پورته شول وینی وبهیدی، ګمکه ولړزیده - پرهرونه خندنی شول کورونه وران شول، اولږ ساعت پس دیوه کورپه دروازه کی دوه کتونه کیښودل شول ماحول سلګی ، سلګی ږ ، سترګوداوښکو بارانونه اوروړ مری غریو اوسانلو نیولی وی، دویر اوماتم تیارو دسترګو نظرونه لوټلی وو داسویلیو بریو کی چلیدلی اودغم تونلو سلیو دخوښیو اوخنداګانو په مری چاره ښخه کړی وه- داسی ښکاریده چی لدی چارپیر چل څخه دتل لپاره خوښیو کډه کړی وي، دلته هیڅکله هم دخوښی وږمه نه وی چلیدلی ، هیڅکله هم دخندا څپو دچادزړه غولی نه وی ټخنولی اوهیڅ وخت هم ژوند ته چاپه ښکلی اوهیله- من نظر نه وی کتلی. ناڅاپه خلك وبوږنیدل او دسکوت اوچوپتیا دیوالونه ونړیدل.

خلك بوی بلی خواته ودریدل په سپیره ټکری کی یو سپین سری بوډی راښکاره شوه، ټولو سرونه کاږه کړل، تابه ویل چی له بوډی سره له مخامخ کیدلو شرمیږی اوسترګی نه شی ورته نیولی،خوبوډی لکه چی دخپلو زامنو په ورا روانه وی اودخوښی سندری وایی بی پروا راروانه وه لکه چی دخپلو زامنو په واده لسټونی اچوی اواتڼ کوی ، په چورلکونو ښکاریده- دکتونو سرته راورسیده اوس نوڅوك دی چی دغه منظر ته وګوری څوك ددی توان لری چی زړونه ټینګ کړی .

بوډی دکتونو منځ ته تیره شوه څادریی لیری کړ داسی یی وګنډله لکه چی زامن یی په خوب ویده وی ددی په زنګون یی سرایښی وی اودموردمینی په غیږ کی خوب وړی وي،لکه چی دنازپدلغه درانده خوب دمورپه غیبږ کی ویده شوی وی اوداورته دښاپیرو زړی کیسی غبرګوی. پرهرونو لا دوینو داری وهلی اودمښکو قافلی یی لیښلی

دحسن اوجمال انتها دلته خپله شهکاری ښودله تابه ویل چی ددښمن اوراو پولاد هم ددغه ټهر په غلبیلولو کی پاتی راغلی. دهغوی تورو ویښتو پوښلو ټټرونو کی دوینو لښتی روان و اودیوه ملت دعظمت اوخپلواکی بڼ ته یی اوبه خورورکاوه .

بوډی پرکتونو وغوړیده دهغوی پرتوکر ټوکر بدن یی دخپل نظر وړانګی وښندلی- په وینو لړندتندی یی ورښکل کړل- لکه چی دهغوی له پاکی وینی دخپل افتخارغلی انځوروی،راپورته شوه په شونډو یی دخندا څپی خپری شوی- په خندا شوه - په شکرونو شوه- پورته یی په ژورنظر وکتل داسمان په وسعتونو کی یی نظر ښخ شو - لکه چی څه ګوری،له چاسره خبری کوي دخپل رضایت ا و شکران مراتب په ځای کوی اودیوه ستروياړ اوافتخار مننه کوی،هغه بیا په شکرونو شوه تابه ویل دزامنو په ورا روانه ده، په واده یی دخوښی سندری وایی او دخوښی اتڼونه کوی .

ننګیال

دازادی مسافر

گرانو لوستونکو !
تاسو به تردې وروسته په هرګڼه کې (دافغانستان جهاد دکتاب په هنداره کې) ترسرلیك لاندې دهغو کتابونو په باب تبصرې اودهغوی معرفي ولولې کوم چې دبهرنيو لیکوالو اوژورنالستانو لخوا دافغانستان دجهاد په اړه لیکل شوي دي.
«اداره»

دکتاب نوم : ازادی کامسافر
لیکوال : ملك احمد سرور
خپرونکی : پخپله لیکوال
دچاپ نیټه : د۱۹۹۰ نومبر
شمیر : ۱۱۰۰
بیه : ۲۱کلداري
مخونه : ۱۲۷

دازادی مسافر دافغانستان دجهاد په اړه دارلو ژبی دځوان اوحساس لیکوال ملك احمد سرور دهغه ناولیت نوم دی چی پدی وروستیو وختونو کی په ۱۸ برخوکی په ښکلی قطع اوصحافت خپورشویدی.

ملك احمد سرورپیژندل شوی لیکوال دی ، ده دافغانستان دمسلمان اومجاهد ولس دژوند اومبارزی په بیلا بیلو اړخونو درنی اوپخی لیکنی کړی چی پدی اړه دده صحافتی اوادبی فعالیت اوجهاد له هیچا څخه پټ ندی .

ملك احمد سرور سربیره پردی چی دمقاومت دمختلفو ابعادو اوګوښو په رابطه یی وخت په وخت سیاسی تبصری اوتحقیقی مقالی لیکلی اوخپری کړی په ژورنالستکی میدان کی یی هم دافغانستان دجهاد هنګامه ښه ګرمه اوتوده ساتلی اوپه ګڼورسالواوخپرونوکی یی دجهاد په رابطه دخبرونو ، مصاحبو ، تجزیو اوراپورتاژونوله لاری دجهاد دهراړخ اوهری ګوښی انځورګری اوعکاسی کړی اودافغانانو دمقاومت ، قربانیو اوقهرمانیو رساغږ یی دخپرونو له لاری ورسره غبرګ کړی اودخلکو غوږونو ته رسولی دی .

اوله دی ســـره یی دجهاد دحادثو اوحماسو دادبی کولو اوابدی کولو کوشش هم جاری ساتلی اوله همدی لاری یی دغـــه حـــادثی اوحـــماسی دپاکستانی ولس دزړونـــو اودماغونو کورونو ته رسولی دی .

دجهاد په رابطه دښاغلی ملك احمد سرور لومړنی ناول دغرونو اتل په نوم مخکی خپورشوی دادوی دوهم ناول دی چی ظاهراً خوله هغه لومړی ناول څخه لنډ ښکاری خوپه حقیقت کی دهغه په نسبت دافغانستان له اجتماعی جوړښت ، جهادی ماحول اوواقعاتو سره سه جوخت اړخ لګوی .

دآزادی مسافر دماشومانو دبرداشت اوذهنی کشش اواستعداد په سویه لیکل شوی اوزما په عقیده دالومړنی ناول دی چی پدی اړه له یوه منفر دحیثیت څخه برخمن دی .

دکتاب په پیل کی دانتساب ترعنوان لاندی لیکل شوی

« دهغو زرګونو معصومو کوچنیانو په نوم چی دیرغلګرو روسانو دباروډی سوغاتونو(دلوبو سامان ته ورته بمونو) له امله شهیدان یا معیوب شویدی »

دښاغلی ملك احمد سرور دناول داتړون دکتاب له محتوی سره همـومره جوخت اړخ لګوی لکه چی ناول یی دافغانستان په روان جنګ کی دهیواد دکلی کلی اودری دری دپیسو اوواقعاتو سره لګوی

لدی وروسته دسترمجاهد الحاج مولوی جلال الدین حقانی یادونه راغلی ده :

« ملك احمد سرور صیب دهغولیکوالو له جملی څخه دی چاچی دافغانستان دجهاد په موضوع کی ډیری زیاتی اوپه زړه پوری لیکنی کړیدی.

ګران احمد سرور په افغانستان کی دخپلو سفرنامو دافغانانو دمشرانو اوجهادی قوماندانانو سره په مرکو دافغانستان دشهیدانو اودمجاهدینو دولوله انګیزو کیسو اودافغانستان داسلامی جهاد په ځلانده اوروښانه واقعو لومړه لیکنی کړیدی چی داربو ژبو ورونو په زړونو کی یی دافغانستان دجهاد مینه او اهمیت اوپه ځوانانو کی یی دجهاد جذبه راپاروله اوژوندی ساتلی ده ، چی دده له دغی خدمت څخه هیڅوك هم سترګی نشی پټولای ، زه اوس هم پوره باوراویقین لرم چی دلوی دغه ناول به دافغانستان دجهاد دبیلا بیلو اړخونو په انځورولواوپه ځوانانو کی دجهاد دجذبی په راپیداکولو کی ښه کاروړکړی ، زما دعاده چی الله تعالی دی ملك سرورته دلازیات ادبی خدمت توفیق اوهمت ورکړی » والسلام

الحاج مولوی جلال الدین حقانی

پدی پسی دناول لیکونکی سریزه ده چی دناول لیکلو انګیزه اومڅونه پکی څرګنده شویده ښاغلی ملك احمد سرور لیکی :

(د۱۹۸۷ م خبره ده چی زه دیو شمیر پاکستانی پوهانو اوژورنالستانو سره افغانستان ته ولاړم زموږپه ډله کی دپاکستـــان نومیـــالی ادیبه محترمه پروفیسر الــطاف فاطمه ، جناب پروفیسر محمد سلیم ، جناب محمد فاروق خان اونوروژورنالستانو برخه لرله، کله چی موږدپکتیا دوپارمنواوکفرځپونکو سنګرونوله لیدلو څخه بیرته راستانه شوو نودپاکستان په سرحدی برید موله یوه ماشوم افغان سره لیدنه وشوه داووکی له هغو زرګونو ماشومانو څخه ؤ چی په لاسونو کی یی دکتاب اوقلم په ځای ټوپك ؤ اومور، پلار وروڼه ، خویندی یی دروسی یرغلګروپه بمونو اوګولیو شهیدان شوی او کوراوځمکی یی ورانی اوپه کنډوالو بدلی شوی دادداسی کچه عمر ماشوم ؤ چی ذهن یی دلوبو اوساتیریو نه پرته دنورهیڅ تصورنشی کولی خودروسی یرغلګرو ظلمونو اووحشتونو ددغه ماشومانو په زړونو کی دانتقام داوربلی بلی کړی وی اودازادی په لارکی یی دمرګ اوجنګ نه پرته تـول تـصورات اوسـوچونـه تـری لـوتـلـی وو دلـتـه

زمونږ ملګروويل ددغه ماشوم چې دافغانستان دټولو ماشومانو دژوند نمايندګي کوي دژوند کيسه هرومرو بايد وليکل شي له همدې ځايه وه چې دناول خاکه زماپه ذهن کې وګرځېده اوپه ذهن کې مې پلاټ ورته جوړکړ...)

دښاغلي ملك احمد سرور ناول ديوې داسې طبقې دژوند تصوراتو ، کړنو اوتراژيکو اوپوښتونکو حالاتو څرګندونه اوعکاسي کوي چې دافغانستان په جهاد کې ډيره مظلومه برخه تشکيلوي داهغه تنکي ماشومان دي چې دجګړې په دغه خونړۍ لسيزه کې نه يواځې داچې ديو شمير خوږې ديتيمي څپېړو مخونه تکه شنه کړې ډيرنوريې دبمونو اوګوليو خوراك ګرځيدلي ، کڼ شمير دروسي وحشيانو دلوېډ وله بمونو په واسطه له لاس اوپښو څخه يې برخې شوي اودغه خونړۍ جنګ پرې ډيرې منفي اغيزې پرې ايښې دي چې دايوداسې نسل دی چې دمظلوميت ساري يې په نړۍ کې نه ليدل شوي اونه به وليدل شي خوددانسل لدغه مظلوميت اودربدرۍ سره سره يو ابديده نسل هم دی چې دانقلاب دکړاوونو په کوره کې پوخ شوي اوابديده شوي دی .

ځکه خودداسې يوه نسل داستان اودژوند عکاسي له ادبي ارزښت سربېره تاريخي اووزنيز حيثيت هم لري چې ديو ملت دعظمت تاريخ ژوندي اوځلنده ساتي .

د دغه ناول دخورازيات ارځښت ټکی همدا برخه تشکيلوي، ده دځپل ناول له پاره داسې يوه موضوع پلاټ اوخاکه ګرځولې چې دهغه ترکيب اوجوړښت دلوستونکی پراحساساتو او جذباتو اوږوري کوي اوترهغې يې نه پرېږدي چې څوبي ناول پای ته نه وي رسولی .

دافغانستان په جهاد کې دقربانيو اوکړاوونو په زغم کې دوې طبقې ډيرې مظلومې بريښي؛ يوه دماشومانو طبقه اوبله دتورسرو، ترڅو چې دافغاني جامعې دجوړښت اوعنعنوله مخې خوهغه تورسرې چې شهيدداني شوي څوك نوم قدرې هم نه اخلي ...

دښاغلي ملك احمد سرور دناول خښتي اومسالې له همدغه ډول موضوعاتو څخه جوړه شوې اوپه افغاني ټولنه کې دماشومانو دژوند کړاوونو برخليك ، انګيرونو ، احساساتو دربونو اوارمانونو رسا اوځلنده تصويرونه دسړي مخې ته ږدي .

زما دمطالعې له مخې دآزادي مسافر دافغانستان دجهاد په رابطه په اړوکې دريم ناول دی. لومړني ناول دکهساروں کې اګ (دغرونو اور) ترعنوان لاندې اسماعيل ساګرليکلی دوهم يې ستم برجان افغانان ښاغلي مقصود احمد راهي ليکلی اودوه نوريې دښاغلي ملك احمد سرور له خواليکل شوي چې په ادبي لحاظ دافغانستان دمجاهد ولس دژوند ، مبارزې ، حادثو اوحماسو يو ژوندی يادګار اوتاريخ ګڼل شي داسې چې دجهاد دوياړمنې لسيزې کارنامې ، پيښې اوجريانات يې ابدي اوادبي ګرځولي دي .

دازادې مسافر ناول لدې اړخه هم ارځښتناك ګڼلی شي چې دماشومانو له پاره يوپوښتوونکی اثر دی چې له همدې وخته په هغوی کې دجهاد جذبه، دمقاومت روحيه اود اسلام مينه ژوندۍ اوځپانده ساتي . اوماشومان اونوي زلميان دبې لاره کوونکو جاسوسي اوپوليسي ناولو له مطالعې څخه بې نيازه کوي .

پدې توګه موږويلای شو چې داناول دځپل منفرد اوځانګړې حيثيت اوارځښت له مخې دارډو ژبې په ادبي غنا کې يوه دستايني وړاضافه اودافغانستان دجهاد په رابطه يو تلپاته اودروند اثر دی .

الله تعالی دې دليکوال په قلم اوعمربرکت کېږدي چې داسلام اوجهاد په لارکې يې دقلم توره نوره هم تيره اوبريکنده اوسي. موږپه داسې حال کې چې درانه ليکوال ته ددغه ګران اوقيمتي اثر دخپراوې مبارکي وايو پدې لارکې ورته دلازيات توفيق اواجر دعا کوو. –په فن يې برکت .

جهان درماهی که گذشت

جمیل الرحمن سائل

مجله منبع الجهاد ازین شماره اخبار مربوط به رویداد هاي مهم جهان رادرطول یك ماه جمع اوري نموده وتحت عنوان فوق به نشر مي سپارد .
امید مورد استفاده بیشتر خواننده گان باذوق ، قرار گیرد ، مجله مدعي نیست که درین مورد کارش عاري ازنقص وکمبود باشد ، لذا ازخوانندگان نکته سنج خود میخواهد که کاستیها ونواقص رامورد اغماض قرارنداده ، بلکه فورا قلم بدست گرفته در جهت اصلاح ، تصحیح وبهبود این بخش ماراهدایت نمایند . تشکر

(۱) حوت ۲۰ فبروري

درالبانیا محصلین تظاهراتي رابر ضد نظام کمونستي ان کشورراه انداختند ، متظاهرین «مجسه انور خواجه »را سرنگون گردانیدند وخواستار تغیر نام پوهنتون البانیه شدند .

(۳) حوت ۲۲ فبروري

عراق اعلام داشت که حاضر است به پیشنهاد صلح روسیه عمل نماید این سخن بعد از ورود مرتبه دوم طارق عزیز به مسکو درهفته گذشته اعلام گردید .
دیشب طارق عزیز با گرباچف حدود دوساعت ملاقات نمود .
عراق ازهمه کشور هاي جهان خواست تابا ارسال دارو ومواد صحي به حال مردم ان کشور ترحم نمایند .

(۳) حوت ۲۲ فبروري

بنا به گذارش هاي رسیده متحدین امروز حمله زمیني برعلیه عراق راشروع نمودند ، گفته مي شود هردوطرف متحمل خسارات سنگین شده اند .

(۳) حوت ۲۲ فبروري

بنا بر یك خبر که درجریده هندي بنام (انڈیا ابراد) نشر گردیده است امده است که روسها حاضر اندنجیب را ازاقتدار دورسازند ، درصورتي که درانتخابات حزب وطن حق اشتراك داشته باشد .
چنانچه یك وفد پارلمان روسیه به پاکستان رفته وبا مقامات مجاهدین درین باره صحبت نموده اند.جریده مي

نویسد روسها به این نتیجه رسیده اند که بدون مشارکت حکمتیار درافغانستان حکومت مستحکم بمیان امده نمیتواند .

(٤) حوت ۲۳ فبروري

پیشنهاد صلح گرباچف مشتمل برهشت مواد ذیل است :

۱ :- عراق فوراً وبدون قید وشرط ازکویت خارج شود .

۲ :- خروج قوأ یك روز بعد ازقطع جنگ اغاز گردد.

۳ :- خروج قوأ دریك وقت معین صورت گیرد .

٤ :- بعد ازخروج قوأ ازکویت همه تحریم هاي اقتصادي علیه عراق دورگردد.

٥ :- بعد ازخروج قواي عراقي ازکویت قرار دادهاي ملل متحد کالعدم قرارداده شوند .

٦ :- بعد ازختم جنگ همه اسراازاد گردند .

۷ :- مراقبت خروج قوأ رادولي نمایند که درجنگ بطور مستقیم شرکت نداشته باشند واین وظیفه را ازجانب شوراي امنیت به عهده گرفته باشند .

۸:- کارجریان دارد ونتایج ان روز جمعه به شوراي امنیت تقدیم خواهدگردید.

(۷) حوت ۲٦ فبروري

رادیو عراق درنیمهٔ شب ودراخیر پروگرامهاي رادیویي خویش اعلان کرد که قواي خود راازکویت خارج ساخته واین کار راطبق پروگرام موسسه ملل متحد انجام داده است .چنانچه ازگرباچف خواسته شده تابرموسسه ملل فشار وارد کنند تا امریکا را ازجنایت درمنطقه بازدارد .درحالي که بش میگوید جنگ باید جریان داشته باشد

(۸) حوت ۲۷ فبروري

مذاکرات بین شوراي قوماندانان وقوماندانان جنوب غرب کشور که بتاریخ بیست ودوم دلو درکویته ، بلوچستان شروع شده بود بتاریخ ٥ حوت خاتمه یافت .

(۸) حوت ۲۷ فبروري

امروز دربنگله دیش مردم به پاي صندوق هاي راي رفتند ، واین اولین باربود که انتخابات درفضاي تقریباً مسالمت امیز صورت گرفت ، تااکنون نتائج این انتخابات معلوم نه شده است .

(۹) حوت ۲۸ فبروري

بش درپیام تلویزیوني خویش اعلام داشت که قواي متحدین درساعت پنج صبح امروز توانستند همه مراکزي را که میخواستند بدست اورند فتح نمودند،وفعلا جنگ متوقف گردیده است .

جنرال نارمن شوارز کوف فرمانده متحدین گفت : ماتوانستیم سه هزار تانك عراقي راتخریب و ٥٠ هزار سرباز عراقي را اسیر نمائیم ، درحالي که ازقواي متحدین درجنگ زمیني فقط ۲۸ نفر ازبین رفته است .

(٥) حوت ٢٤ فبروري

طرح شش ماده اي گرباچف چنین است:

۱ :- یك روز بعد ازقطع جنگ خروج قوأ عملا شروع گردد .

۲ :- انخلادربیست ویك روزتکمیل گردد.

۳ :- شهرکویت درظرف چهارروزازقواي عراقي خالي گردد.

٤ :- درظرف سه روز اسراي جنگي ازاد گردند .

٥ :- مراقبت ازطرف دولي صورت گیرد که درجنگ اشتراك ندارند .

٦ :- وقتي خروج قوأ مکمل گردیدهمه قراردادهاي موسسه ملل متحد ، که علیه عراق صورت گرفته فسخ گردند.

امریکا این طرح رانیز رد نموده است .

(٥) حوت ٢٤ فبروري

حل هفت فقره اي جورج بش چنین است :

۱ :- عراق درظرف بیست وچهار ساعت اینده اکثر قواي

خود را ازکویت خارج سازد .
۲ :- خروج قواْ درمدت یك هفته مکمل گردد.
۳ :- درظرف ٤۸ ساعت اینده شهرکویت تخلیه گردیده وخاك کویت به حکومت قانوني اش سپرده شود ٤ :- ازجزائر (یوبیان) و (رامله) قواي عراقي فورا خارج شده درانجاها وضع یکم اگست دوباره برقرار گردد .
٥ :- در٤۸ ساعت اینده اسراي جنگي ومردم کویت که به زوراسیر گردیده بودند ازاد گردند .
٦ :- عراق همه قرارداد هاي موسسه ملل متحد را پذیرفته وبه ان عمل نماید .
۷ :- عراق درظرف یك هفته جاهاي ماین گذاري شده ازطرف قوایش را افشا سازد .
همچنان امریکا گفته است که بعضي ازمراکز عسکري حکومت عراق ازسرحدات کویت دورگردیده ، وبرکویت دوباره حمله صورت نگیرد. عراق اولتیماتوم امریکا رارد نمود وانرا یك عمل مضحك خواند ، وگفت که نزد شان اسراي کویتي وجود ندارد .

(۹) حوت ۲۸ فبروري

یعقوب خان وزیر خارجه پاکستان خواهان استعفاءازمقام خویش گردیده است ، رهبران منظمات سیاسي پاکستان درملاقات شان بانوازشریف روي مسله خلیج ، مطالبه برکناري یعقوب خان راازنوازشریف نموده بودند .
رهبران سیاسي پاکستان بصورت عموم چنین نظریه دارند که پالیسي پاکستان درقبال مسله خلیج یك پالیسي امریکایي بوده و یعقوب خان دران رول عمده دارد .

(۹) حوت ۲۸ فبروري

سخنگوي پارلمان ایران مهدي کروبي دریك سخنراني خود درلاهور گفت : اگر قواي امریکایي درخلیج توقف کند دران صورت ایران مجبورخواهد شد تادرمقابل عکس العمل نشان بدهد .
وي افزود اگر امریکا بخواهد نقشه منطقه خلیج راتغیر بدهد دران صورت ماخلیج را قبرستان امریکا خواهیم گردانید .

(۹) حوت ۲۸ فبروري

وزراْکشور هاي شامل پیمان نظامي وارسا ازبین رفتن این سازمان را رسما اعلام داشتند .
این پیمان درسال ۱۹٥٥ بمیان امده بود .

(۱۱) حوت ۲ مارچ

دربنگله دیش حزب نشنل به رهبري خالده ضیاء درانتخابات ان کشور پیروز گردید حزب وي از ۳۰۰ کرسي پارلمان ۱٤۰ کرسي انرا بدست اورد .
شیخ حسینه واجد دختر مجیب الرحمن که رهبر حزب عوامي بنگله دیش است این انتخابات رارد نموده ، گفته است که دران تقلب و غداري صورت گرفته است .

(۱۱) حوت ۲ مارچ

محترم حکمتیار ابرازداشته است ، که جنگ خلیج چهره اصلي امریکا رابر ملاساخت ، سقوط وزوال امریکا ازهمین جاشروع خواهد گردید وي افزود روسها درافغانستان شکست خوردند امریکایي ها درخلیج رسوا خواهند گردید .

(۱۲) حوت ۳ مارچ

پنج رکن مستقل شوراي امنیت موسسه ملل متحد بخاطر قطع جنگ درخلیج به یك طرح به توافق رسیده اند د رطرح امده است که متحدین قواي خود را ازعراق خارج ساخته وعراق کویت راتخلیه نماید . به عراق وکویت ازادي داده شود ، اگرعراق ازاین شروط سرکشي نماید دران صورت به قواي متحدین اختیار جنگ داده شده است . همچنان پرداختن غرامات جنگ بالاي عراق تعین گردیده است .

(۱۲) حوت ۳ مارچ

جنرال نارمن شارزکوف قوماندان قواي متحدين ،و جنرال خالد بن سلطان قوماندان قواي سعودي با چندتن ازجنرالهاي عراقي درجنوب عراق ودرتحت يك خيمه براي اولين باربعد ازشروع جنگ ملاقات نمودند ، ملاقات انها دوساعت طول كشيد ، انها درباره اسراء وتوقف جنگ به توافقاتي رسيده اند .

(۱۲) حوت ۳ مارچ

قراراطلاعات رسيده ازايران حزب وحدت اسلامي دفاتر خود را به عنوان اعتراض برحكومت ايران ، دران كشور مسلود ساخته است ، حزب وحدت بنا برعملكرد هاي ظالمانه اي كه مقامات ايراني درمقابل مهاجرين افغان انجام ميدهند مجبور به اين اقدام گرديد .

(۱۳) حوت ٤ مارچ

عراق اعلان نموده است كه همه شروط قطعنامه ملل متحد راقبول نموده است وگفته است حاضراست به ان عمل نمايد .

(۱۳) حوت ٤ مارچ

شوراي امنيت موسسه ملل متحد منظوري طرح امريكا مبني برتوقف جنگ درخليج راصادر نموده است .
يازده ركن شورا به اين طرح راي موافق داده اند. كيوباراي مخالف ، چين ، يمن وهند درراي شماري حصه نگرفته اند .
درطرح امده است كه اگر عراق انرا نپذيرد بالايش حمله صورت خواهد گرفت تحريم اقتصادي برعليه عراق جريان داشته واين امرمنوط و مربوط شوراي امنيت است كه چه وقت انرالغو نمايد .
اولين فرد خاندان شاهي كويت پس ازشش ماه فرارشيخ سعد بن صباح وليعهد ان كشور بودكه امروزوارد كويت شد .

(۱۳)حوت٤مارچ

قرارگزارشات راديوهاي جهان اوضاع شهربصره از چند روز بدين سوخراب گرديده است .
گفته مي شود شورشيان والي وبعضي از اعضاي حزب بعث رابقتل رسانيده اند .

(١٤) حوت ٥ مارچ

بنابه گزارش آژانس اطلاعاتي افغان وبه نقل از منابع مؤثق سه تن از مجاهدين افغان در جنگ عراق وكويت كشته شده اند. بنا به قول يك داكتر ، مسولين حكومت مؤقت آنها رافريب داده اند زيرا درابتداء به ايشان چنين گفته شده بود كه به آنها مبالغ هنگفتي داده خواهد شد، وانها درمكه ويا مدينه دوراز صحنه جنگ خواهند بود . ولي بمجرد رسيدن بدانجابه ظهران منطقه جنگ فرستاده شدند .
كشته شدگان را به كمپ مهاجرين دركراچي منتقل نموده اند.

(١٥) حوت ٦ مارچ

چندراشيكر صدراعظم هند مستعفي شد رئيس حكومت هند استعفاي وي راپذيرفت .
مبصرين علت استعفاي(شيكر) رامخالفت حزب كانگرس برهبري راجيوگاندي باوي خوانده اند .
چندراشيكر مدت تقريباً چهار ماه صدراًعظم هندبود .

(١٦) حوت ٧مارچ

امروز دفتر سازمان آزاديبخش فلسطين دركويت بسته شد . بعد از اعلاميه راديو كويت مبني براينكه همه سفارات بايد اجازه نامه ازحكومت كويت داشته باشند اين دفتر بسته شد .
منابع اين سازمان گفته اند كه تاحال شش هزار فلسطيني دركويت زنداني شده اند . قبلاً گفته شده بود به تعداد سه صد نفر زنداني شده اند .

(۱۷) حوت ۸مارچ
جیمز بیکر وزیر خارجه امریکا امروز آن کشور رابه قصد خاور میانه ترک کرده ، ووارد ریاض گردید .
وي ده روز رادر سعودي ،مصر ، سوریه ، شام ، اسرائیل ، ترکیه وروسیه خواهد گذارانید ، وبامسؤلین این کشورها درباره مسائل اعراب و اسرائیل صحبت خواهد نمود ، تاموفق به یافتن راه حل درست براي بحران خلیج ومنطقه گردد !!
(۱۷) حوت ۸مارچ
امروز اولین طیاره حامل مواد داروئي وغذایي موسسه ملل متحداز طریق خط هوایي هند وارد کابل گردید .
این مواد براي کساني که دراثر سیلاب وزلزله هاي اخیر خساره مند شده اند فرستاده شده است .
(۱۸) حوت ۹مارچ
محترم صبغت الله مجددي ومحترم محمد نبي محمدي پیام هاي تبریکي خویش رابه امیر کویت (شیخ جابر) فرستاده اند . این مطلب دریك اجتماع که ازطرف حرکت انقلاب اسلامي دزکویته دایر شده بود واینها نیز درآن شرکت کرده بودند اعلان گردیده است .
(۱۹) حوت ۱۰ مارچ
امروز مظاهرات وسیعي از طرف طرفداران رئیس فدراسیون روسیه بوریس یالسن درمسکو براه افتید .
مظاهره کنندگان خواهان استعفاي گربه چف گردیدند .
ووي رامتهم به دروغ وفریب دراجراي برنامه هاووعده هایش نمودند
(۲۱) حوت ۱۲ مارچ
بتاریخ نهم مارچ کنفرانس بین المللي براي حل قضیه افغانستان درهوتل انترکانتني ننتال پشاور ازطرف اداره وفا دائر گردید که دران عده زیادي از شخصیت هاي سیاسي افغان وکشور هاي مختلف اشتراك ورزیده بودند . انها طي خطابه ها نظریات خود رابراي یافتن راه حل سیاسي قضیه افغانستان ابراز داشتند ، این جلسه در تاریخ یازدهم مارچ خاتمه یافت .
(۲۱) حوت ۱۲ مارچ
بي نظیر بوتو صدراعظم سابق پاکستان درسیمینار سه روزه که درباره افغانستان دریك هوتل پشاوردائر گردیده بود اشتراك ورزید وبیانیه اي نیز ایراد نمود وگفت : باوجود همکاري مهاجرین حکومت مؤقت در بدست اوردن مقاصد خویش ناکام گردید ،وي علت بنیادي این موضوع رااختلافات باهمي دربین تنظیم هاي مجاهدین خواند . وگفت روابط درمیان مجاهدین مثبت نیست .
وباید روابط خویش رابیشتر وبهتر سازند تا درمقاصد خویش کامیاب شوند . بي نظیر طرح صلح نجیب رارد نمود وآنرا فریب ودروغ خواند وگفت هدف نجیب فقط بقاء برکرسي اقتدار است وبس .
(۲۲) حوت ۱۳ مارچ
پارلمان هند منحل گردید ، تازمینه براي انتخابات جدید درماه مي سال جاري آماده گردد .
(۲۲) حوت ۱۳ مارچ
قرارگزارش، پارلمان روسیه تصمیم گرفته است تانام کشور روسیه را اصلاح نمایند ، واز آن نام هاي (شوروي) و(سوسیالست) راحذف کند .این درحالي است که اکثر جمهوریت هاي تحت تسلط روسیه خواهان استقلال سیاسي خویش از مسکومي باشند .
(۲۵) حوت ۱۶ مارچ
وزیر دفاع رژیم مزدور کابل(اسلم وطنجار) امروز اعلان آتش بس نمودوگفت به قوایش دستور داده است تادر ماه (رمضان) بر مراکز مجاهدین حمله ننمایند .درحالیکه مجاهدین افغان این پیشنهاد رابطور قاطع رد نمودند .
(۲۶) حوت ۱۷ مارچ

عنقریب جورج بش رئیس جمهور امریکا سفري به فلسطین اشغالي خواهد نمود ، تابامقامات اسرائیلي دیدن نماید . تااکنون وقت این سفر تعین نشده است . البته این اولین سفر رئیس حکومت امریکااز فلسطین اشغالي درطي مدت دوازده سال اخیر خواهد بود .

محترم ایت الله اصف محسني رهبر حرکت اسلامي طرح ظاهرشاه راکه بخاطر حل قضیه افغانستان پیشنهاد نموده بود رد کرده است وگفته است که طرح مذکور مقبولیتي نزد ملت افغان ندارد .

وي این سخن رادرمصاحبه خویش با مرکز نشراتي افغان اظهارداشته است همچنان وي افزوده است که تشکیل یك حکومت موقت که شامل همه منظمات اسلامي باشد درواقع اولین قدم جهت حل معضله افغانستان شمرده مي شود .

محترم محسني گفته است که افغانها قادر اند تاخود مشکل خویش راحل نمایند .

(۲۶) حوت ۱۷ مارچ

بنابرگذارشهاي رسیده حکومت سعودي وایران به توافق رسیده اند تاسفارتخانه هاي خود را درهردوکشور دوباره بازنمایند ، بعد ازکشته شدن حجاج ایراني بدست پولیس سعودي روابط بین این دوکشور خراب گردیده بود .

(۲۷)حوت ۱۸ مارچ

جمیزبیکر وزیرخارجه امریکا که بخاطر سفرده روزه جهت یافتن راه حل بحران خلیج وفلسطین به کشورهاي ذیدخل رفته بود ، دوباره به امریکا برگشته است .

(۲۸) حوت ۱۹ مارچ

روزیکشنبه درروسیه همه پرسي عمومي بخاطر مسله «اتحاد روسیه »به اثر تقاضاي گرباچف صورت گرفت. وي گفت منظور ازدادن راي بخاطر « اتحاد روسیه » این نیست که نظام کهن کریملن برقراربوده وکریملن برهمه امور کنترول داشته باشد !!

بعد ازنتیجه گیري ارا چنین معلوم مي شود که در۹ جمهوریت روسیه تقریباً اکثریت مردم به طرفداري (اتحاد روسیه)راي داده اند ، درحالیکه درشش جمهوریت روسیه ، ارمنیا ، جورجیا ، ملداویا ، لیتوانیا ، لیکونیا واستونیا مردم از دادن راي امتناع ورزیده اند .

ازنتایج ابتدایي چنین معلوم مي شود که گرباچف راي بیشتر رابدست خواهد اورد ولي نخواهد توانست که راي قاطع مردم روسیه رابدست اورد .

اکنون مقاطعه شش جمهوریت درانتخابات توجه همه را بخود جلب نموده است .

(۲۸) حوت ۱۹ مارچ

بنابه گذارش تلویزیون پاکستان روزسه شنبه خالده ضیاء بحیث صدراعظمه بنگله دیش تعین شد حزب وي که درانتخابات اخیر ان کشور اکثریت کرسي هاي پارلمان رابدست اورده بود موفق به تشکیل حکومت دربنگله دیش گردید .

مراسم تحلیف توسط قاضي شهاب الدین احمد سرپرست ریاست جمهوري ان کشور صورت گرفت .

روسیه د ټوټې ټوټې ...

ریاستونو اوسیدونکی اوس دگورباچوف په نیرنګونو نه غولیږي او دا پوخ تکل یې کړی چې خپله آزادي به لاس ته راوړي. ګورباچوف ددې ریاستونو دآزادۍ دلاس ته راوړلو روحي دوژلو لپاره ډیرې لارې په کارواچولې خو تر اوسه په یوې کې هم نه دې بریالی شوی ، په سرکې دا رایاستونو تر هغې ورو‌سته چې خپله آزادي یې دمرکزي حکومت څخه اعلان کړه تر اقتصادي فشار لاندې ونیول خوڅه نتیجه یې ورنکړه بیایې وغوښتل دخبرو اترو له لارې هغوی ته قناعت ورکړي او هغوی په نسبي آزادۍ راضي کړي خو په دې کار کې هم بریالی نشو .

او اخر دې ته اړ شو چې هلته خپل پوځیان ورولیږي او له دې لارې هغوی ودارکړي ترڅو دآزادۍ دلاس ته راوړلو له مبارزې لاس واخلي ، خو دګورباچوف ددې عمل په مقابل کې خلک سرکونو ته راووتل او هغه یې وغانده او په نتیجه کې ګورباچوف دې عمل له داسې ستونزوسره مخامخ کړ چې توقع یې نه وه ، په ماسکو کې دکریملین دماڼې په وړاندې په زرګونو تنو دبالتیکي ریاستونو په پلوې مظاهرې وکړې، او

ګورباچوف تر هغې وروسته انتخاباتو ته مجبور شو چې په نړۍ کې دکمونیزم تهغر ورتهول شو، دلیتوانیا ، لیتویا، استونیا او .... ریاستونو دآزادۍ غوښتنې غږ اوج ته ورسید ، دخبرو له لارې هغوی آرامه نکړای شول ، اومجبور شو چې دهغوی دآراموالو لپاره روسیې پوځونه ورلیږي

دګورباچوف تر ټولو لوی رقیب «بورس یالستن» ددې عمل دغندلو په ترڅ کې دهغه داستعفی غوښتنه هم وکړه .

۱ - اوس چې ګورباچوف ددې ریاستونو دآزادۍ غږ دخفه کولو لپاره کوم دمکره ډك انتخابات اعلان کړي ، دهغې له لارې هم نشي کولی چې ددې ریاستونو دخلکو دآزادۍ روحیه ووژني ، دوی په ډیرې هوښیارۍ دګورباچوف دانتخاباتو اعلان رد کړ ، اواوس که ګورباچوف او دروسیې مرکزي حکومت دمارچ په «۱۸» دانتخاباتو په کولو بریالی هم شي او په ظاهرې توګه داسې هم

وښیې چې ددې ریاستونو خلکو دروسیې سره دیوځای ژوند کولو په پلوې رایه ورکړه ، نشي کولی ددې ریاستونو خلکو او نړیوالو ته قناعت ورکړي ، ددې ریاستونو خلکو دخپلې خوښې انتخاباتو په ترڅ کې چې دفبرورۍ او مارچ په میاشت کې سرته ورسیدل وښودله چې دمرکزي حکومت څخه خپله آزادي غواړي او ترهغې وروسته چې دمنځنۍ اروپا یوه ریاست آیسلند اعلان وکړ چې غواړي دلیتوانیا سره مستقلې سفارتي اړیکې ټینګې کړي ددې ریاستونو دآزادۍ غوښتنې غږته یې لاقوت ورکړ . ددې ریاستونو خلکو اوس یوځل دآزاد ژوند کولو تکل کړی ، ګورباچوف چې هره دمکر اوفریب څخه ډکه حربه او پروګرام په کار واچوي نشي کولی دوی له ددې حق څخه محروم کړي .



راغلي ليکونه

داځل بيا په پاکستان ، ايران ،اونوروبهرنيوهيوادونوکی دميشته مهاجرينو زيات شمير ليکونه دمنبع الجهاد داداری په نوم رارسيدلی دی ، ورونهو دخپلو ليکنو په ترڅ کی دمنبع الجهاد دپاليسی چی دمجاهدينو دليکودتوحيد لپاره کارکوی ، ښه صحافت او دلچسپو مضامينو ستاينه کړی اوزياترو يی دمجلی دنه ورسيدلو شکايت کړی ، موږ ذليکو هنو دتراکم اوزياتوالی په خاطر دټينو ورونهو يواځی نومونه اوادرسونه دلته راوړو او دټينو نورو بشپړ ليکونه خپروو.

***

دضلع اوتحصيل صوابی ډاگخانه کوهاټی برکی کمپ له مډل سکول څخه سرمعلم حبيب الرحمن اوموسی جان ،دنومړی ځای دمهاجر بازار څخه حاجی گل محمد دوکاندار ، محمد نعيم نصرتيار ، بياهم دبرکی کمپ دمهاجر بازار څخه قاری محمد عظيم مسلم يار ،او دمهاجر بازار څخه قاری عبدالرزاق تيموری ، دضلع اوتحصيل پيښور ، ډاگخانه ارمړپايان څخه استاد محمد جمال حکمت ، دډاگخانه کوهاټی برکی کمپ څخه حاجی نظرمحمد دوکاندار ، اوډاکتر تازه خان ، دنومړی ادرس څخه نقيب الله خان ، دپيښور دصدر ددرويش جومات د(۳۰)نمبر کوټی څخه سعدالله جان ، دضلع کوهاټ ، ټل شار ددارالعلوم حقانيه څخه عبدالله درويش ،دضلع کوهاټ ، تحصيل هنگو ، دسروزی له سيمی څخه داکتر نيك امير خان« تنی» ، دميرانشاه دانجمن قرآن له ليسی څخه دهغوی ښوونکو او مسؤلينو، دجامعه الدعوة والجهاد څخه سعدالله ، علی محمد) دمجلی داداری په نوم جلا، جلا ليکونه راليږلی ، دمجلی مطالب ښه صحافت او پاليسی يی ستايلی او دمجلی دورليږلو غوښتنه يی کړی ، موږ ددی تر څنگ چی دی ورونهوته ډاډ ورکوو چی انشأ الله تردی وروسته به مجلی ددوی په ادرس ورليږو په راتلونکی کې

دمجلی دلاښه والی په لارکی دهغوی لیکونو او وړاندیزونو ته سترگی په لار یو ،
اوداهم هغه لیکونه چی زیاتره یی له اروپایی هیوادونو څخه دمجلی لوستونکو رالیږلی او موږ یی کټ مټ خپروو:

***

اداره محترم ماهنامه منبع الجهاد
السلام علیکم
امید وارم احترامات وتمنیات نیک بنده راباتمام خلوص بپذیرید .
ماهنامه «منبع الجهاد » ماهواره برایم میرسد خیلی ها مدیون وسپاسگذارم واقعاً ماهنامه ترجمان سنگرداران جهاد مقدس ملت قهرمان ومتدین ماست .
زمانیکه ماهنامه رامطالعه میکنم ، احساس میشود که همانند شیرمردان کاخ شکن ظلم واستبداد ان سرزمین مرد خیز قهرمان سنگرقلم نیزداریم که درمیدان ادب پیشتاز وپیشقدم اند .
آن پروانه های اسلام وکاخ شکنان امپراطوری جهان خوارکرملین ، وان نجات دهندگان تمام جوامع گیتی ازلعنت وبدبختی کمونیزم قلم داران درکاردارند که این جان فدایی های برپیکر اسلام رابه گوش جهانیان برسانند ، تاهمواره ملل جهان پندی بگیرند وازکسی دیگر همچو «خرس های قطبین » ازاین نوع اشتباهات گستاخانه سرنزند .
من فکرمیکنم ماهنامه منبع الجهاد وهفته نامه جهادهنداره این مسوولیت بزرگ ایکه بردوش گرفته اند به خوبی انجام میدهند .
مضامین ادبی واشعار جهادی ماهنامه خیلی جالب وخواندنی ونیز ترجمان واقعی جهاد مقدس ماست .
مجاهد بزرگ وقهرمان محترم مولوی صاحب حقانی یکی ازشیرمردان وقهرمانان جامعه مسلمان ومتدین ماست که همیشه برپیکر افتخارات وسربلندی های مامیافزاید ، واقعا باید اقرارکرد که دلیل سربلندی اسلام وملت تاریخ ساز افغان همین شیرمردان وپروانه های اسلام است .
ازخداوند ایزد متعال به تمام سنگرداران جهاد مقدس وهمکاران وکارکنان ماهنامه منبع الجهاد موفقیت های هرچه بیشتر تمنادارم

به امید پیروزی اسلام
عزیزالرحمن «عزیز»

***

دالحاج مولوی صاحب جلال الدین حقانی دجبهاتو محترمی فرهنگی ټولنی ته السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته !
لومړی له هرڅه نه مخکښی دجناب محترم اودجهاد لوی قوماندان حقانی صاحب اودده ټولو همسنگرو همکارانو اومجاهدینو ته دلوی خدای (ج) له درباره څخه پدی سپیڅلی اواسلامی مبارزه کی ډیر توفیق اوبریالیتوب غواړم یقین ولری چی ستاسو میاشتنی خپرونه چی دمنبع الجهاد په نوم یادیږی ماته په منظم ډول دجهاد هنداری دهفتی نامی سره یو ځای رارسیږی نوبیا هم باورولری چی په لیدلو یی زموږ سترگی اوزړونه روښانه کیږی داچی ستاسو همیشه زه په یاد یم ستاسو ګهم لوی خدای (ج) مل اومددګاراوسی ! دافغان مسلمان ولس دلکونو بچو قربانیو ته چی گورو اودغیرت اومیړانی څلی یی په اسمان لگی همداوجه ده چی دخپل ایمان دپخی عقیدی اونه ستړیدونکو اسلامی هلو ځلو په زور یی روسان دافغانستان څخه په جهانی سویه په بی شرمانه توگه وشړل افغانستان موږ اوتاسو ته راپاتی شو مگر متاسفانه موږله موقع څخه استفاده ونشوای کړای په ډی وطن کی دپادشاهی په

جوړېدلو اخته شوو اوګټلې جنګ
موبایللو ته نژدې دي .
نولدې امله دې روش داسلامي
جهاد عظمت اودافغاني مسلمان
ملت شهامت ته صدمه ورسوله
خوبیا به هم له لوي خدای (ج)
څخه خیر غواړو اوس چې متوجه
شوېله نده .
نورنو په لوي خدای (ج) سپارم
ستاسو ورور الحاج سراج الدین
« منګل »

***

مسلمانو وروڼواو عزیزانو السلام
علیکم !
زه محمد اصفه چې دبغلان ولایت
دنهرین دولسوالۍ دلوګریانو دکلي
اوسیدونکی اوهوري دحرکت
انقلاب اسلامي دمجاهدینو دیوه
ګروپ مشري راپه غاړه ده اولړه
موده کیږي چې دڅه ضروري کار
لپاره پیښور ته راغلی اوکه دخدای
رضا وه آینده هفته بیا مقدسو
سنګرونو ته روان یم داعرض لرم
چې دلته راغلم نو دجهادهنداره او
منبع الجهاد باندې مې سترګې
خوږې شوې که څه هم مایې په
بغلان کې لاصفتونه اوریدلي وو
خوچې په خپلو سترګو مې ولیدل
نو دمولوي صاحب حقاني دغه
فرهنګي جهاد دبالکل حیران کړم او
دجناب مولوي صاحب دومره عالي
صلاحیت ته ګوته په غاښ شوم په
خدای باوروکړې چې په داټول
جهادي مطبوعاتو کې دغه دوه
خپروني راته اول نمبر ښکاره شوې
او په همدې خاطر مې په ما دیر
تاثیر وکه اومولوي صاحب ته مې
دغه اشعار یوناڅاپه دقلم په ژبه
جاري شول چې :

داسلامي دانقلاب حقاني مشره
دولس دآرمانو حقاني مشره
دپکتیا ددنګو غرونو قهرمانه
دجهاد دحقې لارې مسلمانه
دآصف دې زرسلامه وي په تا
چې جهاد کړې په اخلاص اوپه رښتیا
تاهم توره چلولې هم قلم دی
څکه سردې ددښمن قلم ، قلم دی

والسلام
محمد اصف

***

له لندن څخه راغلې لیك
دجهاد هنداره اومنبع الجهاد
قدرمنو چلونکو اومسؤلو وروڼو !
السلام علیکم
زمامینه اودزړه له کومې احترامونه
ومنئ!
دلوړهمت اوبرکت څښتنان شئ
کورمو خدای (ج) اباد لره ، اونیك
مرغی مو په برخه شه .
دجهاد هنداره اودمنبع الجهاد
دمیاشتني خپرونه رارسیږي اومننه
یې کوم ، چې ددغه دواړو
دلوستلو اوراليږلو پیرزوینه مو په
ما کړیده ، پدې چې دیوې
خواښکلې اوسپیڅلې نګه پښتو
لیکینې لرې اودبلې خوا څنې نور
اړخونه هم لرې تاسو ټولو ته یې
دبریالیتوب دعاګانې کوم .
پرته لدې چې دروند منشر
اودجهاد قهرمان الحاج مولوي
صاحب حقاني دجهاد دپیل څخه
تراوسه پورې دروسي ،دګوډاګیانو
اودوطن پلورونکو په وړاندې
دجهاد په پیاوړو
سنګرونو کې دخپلو نورو ټولو
جنګیالیو اومیړنیو مجاهدینو په
څنګ کې دسرلوړې کوم
بریالیتوبونه ترلاسه کړې دي
سترګې ورځنی نښې پتیدلې ،
همداډول بل لوی جهاد دجهاد
هنداره ده چې دوسله وال جهاد
تراړخ یې ددې دخپروني بنسټ
ایښی دی دلوی اوبې نیازه څښتن
(ج) څخه دغه مبارزاومجاهد
قوماندان مولوي صاحب جلال
الدین حقاني اودده په خیر دکلکې
اوپاکې عقیدې نورو ټولو مجاهدو
وروڼو ته دلا زیات بریالیتوب
غوښتنه کوم ، اودښاغلي نوموړي
مولوي صاحب شهید ورور خدای

بښلی محمد اسمعیل ذبیح الله او
نورو ورونو شهیدانو روح ته درود
وایم اومولوی صاحب (حقانی) ته
دلویی خدای څخه صبر جمیل
غواړم. داکتر احمد یو سف یوسفی
دلندن څخه

***

دجهاد هنداری اومنبع الجهاد
دخپرونی ډیرو محترمو اودرنو
کارکوونکو ته !
السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته !
لومړی خپل دزړه له کومی
سلامونه اواحترامات تاسو ټولو
درنو اومحترمو مجاهدو چلوونکو
ته چی دگران هیواد دمحرومو
اومظلومو پرگنو دکاملی آزادی ،
دروسانواودهغوی دگوداگیانو
دجناياتو په رسواکولو ، اودیو
واقعی اسلامی نظام دراوستلو په
لاره کی له ډیرو ستونځو ،
کړاوونو ، اوله زیاتو لوږو او ژورو
سره سره هلی ځلی کوی ، له
څښتن تعالی څخه درته کامل
صحت اوبریالیتوب غواړم .
دستاسو محترمانو له خوا دجهاد
هنداره ، اومنبع الجهاد دخپرونی
وروستی څوگڼی راورسیدی ، هغه
می په ډیر شوق اومینه ولوستلی
، واقعاً ډیر عالی اوپه زړه پوری
مطالب په ډیر ښکلی قطع
اوصحافت په کی خپاره شوی وو ،
ماددی خپرونو څینی مطالب
اقتباس اوهغه می په خپلو آزادو
خپرونو کی (بولتن سنگر - اوسهار) کی
بیا نشر کړل ، ترڅو ورڅخه
زیات شمیر لوستونکی استفاده
وکړی اوهم می ددی خپرونو
دپیژندنی په ارتباط اوهمدغه شان
دنامتو مجاهد قوماندان الحاج
حقانی ویناوی اودشهید خدای
بښلی قوماندان صاحب محمد
اسماعیل ذبیح الله په باره کی یو
لړ مطالب خپاره کړل ، چی دیو
شمیر لوستونکو دخاصی علاقی
وړوگرځیدلی .
زه ددی خپرونو په باب دالانډې
نظریی تاسو محترمانو ته لیکم ،
که چیری خوښی موشوی ، اویا یی
دعملی کیدو امکانات موجودوی ،
اویا دستاسو دخپرونو له پالیسی
سره سمون ولری ، دابه دخپرونو په
زیات مؤثریت اوښکلا کی یو بل
اغیزناك قدم دی :
۱- څرنگه چی اوسنی خپرونی
دراتلونکو نسلونو لپاره ژوندی
تاریخ دی ، نوله دی کبله که چیری
دجهادی کیسو اویا دسترگو لیدلو
حالاتو په لیکنه کی دمربوط
کسانو نوم ، ځای ، تخلص ، نیته
اونور مکمل هویت اوپته ولیکل
شی دابه ډیره ښه وی .
۲:- دجهاد له قوماندانانو ،
مجاهدینو اوله نورو مهاجرینو سره
مرکی .
۳:- دهیواد دمعضلی دحل
اودراتلونکی افغانستان په باره کی
له مختلفو اشخاصو سره مصاحبی
.٤:- تراوسه پوری په هیواد کی
جگړه روانه اوهره ورځ اسکاډونه ،
اوبمونه اوریږی خو ځینی کسان
دهیواد دبیا آبادولو ترعنوان لاندی
لگیا اوجیبونه ډکوی ، په دی برخه
کی خپرونی اومکمل معلومات
خپروی .
٥:- دمهاجرینو په کمپونو
اودهیواد په دننه کی دقهرمان ولس
دستونځو اومشکلاتو په باره کی
راپورتاژونه نشرول .
په پای کی دستاسو ټولو محترمو
مجاهدینو دکاملی روغتیا
اوبریالیتوب یو ځل بیا هیله له
څښتن تعالی څخه کوم.په درناوی
ممنون ، په المان کی دبولتن سنگر
اوسهار دخپرونو متصدی.



ابدي ژوندی

شهید محمد نذیر

شهید محمد نذیر دگلوخان زوی په قوم وردگ ؤ ، چی دوردگو دولایت دچك ولسوالی دگوره زرکك دکلی په یوی دینداری کورنی‌کی زیږیدلی ؤ، په(۲۲/ ۶/ ۱۳۶۷) نیټه دسلمان فارسی دغنډ دمجاهدینو په ډله کی شامل شو ، دجهاد په دوران کی یی په ډیرو جهادی عملیاتو کی برخه اخیستی او ملحد دښمن ته یی زیات ځانی اومالی تلفات وراړولی دی. داسلام دلاری دغه نومیالی مجاهد په ۲۸/ ۵/ ۶۹ نیټه دشلکا پوستی ته ددفاع په جریان کی دملحدینو له خوا دایښودل شوی ماین په ذریعه دشهادت لوړ مقام ته ورسید .

انالله واناالیه راجعون

شهید اختر محمد

شهید اخترمحمد دزریت خان زوی ، په قوم ځاځی ؤ چی دپکتیا ولایت دځاځی میدان دولسوالی اوسیدونکی ؤ .په ۱۳۶۹/۲/۲۸ نیټه یی دسلمان فارسی دغنډ په مجاهدینو کی ځان شامل کړ ، په ځینو جهادی عملیاتو لکه دشلکا اوولسوال دپوستو دفتحه کولوپه عملیاتو کی یی فعاله برخه اخیستی وه . بالاخره په ۱۳۶۹/۶/۵نیټه یی دخدای (ج) درضا په لارکی دشهادت لوړ مقام په برخه شو.

انالله واناالیه راجعون

شهید عزیز محمد

شهید عزیزمحمد دبازمحمد زوی دبغلان ولایت دنهرین ولسوالی دسرتنگی دکلی اوسیدونکی په قوم بنوزی ؤ ، دثور ترکودتا وروسته یی په وسله وال جهاد پیل کړی،نوموړی په ۱۳۶۷/۵/۲ نیټه دالحاج مولانا جلال الدین حقانی ترقیادت لاندی دسلمان فارسی دغنډ په مجاهدینو کی شامل شو.اتلس میاشتی یی ددغه غنډ له نورو مجاهدینو سره یو ځای دکفر اوالحاد مقابله وکړه. بالاخره په ۱۳۶۸/۱۰/۲۳ نیټه د(۲۵) کالو په عمر دشهادت لورمقام ته ورسید .

(انا لله وانا الیه راجعون)

شهيد بسم الله خان

شهيد بسم الله دشير زوی په ۱۳٤۷هـ ش کال دپکتيا ولايت دخوست دلويي ولسوالۍ داسماعيل خيلو دبهرام خيلو په کلي کې زېږېدلي ؤ . دننگرهار ،لوگر اوپکتيا ولايتو نو کې يې دکمونستانو په ضد وسله وال جهاد کړی اودجهاد په دوران کې يې د دين اووطن دښمنانو ته زيات ځاني اومالي تاوانونه اړولي دي . بالاخره دغه زړور مجاهد په ۱۳٦٥/۱۰/۱۱نيته دسپينه کيو په پوستو باندي دحملي په وخت دشهادت لوړ مقام ته ورسيد . (انالله وانااليه راجعون)



شهيد اصيل خان

شهيد اصيل خان دملك گوگل زوي دپکتيا ولايت دباك علاقه دارۍ په سومن خيلو کلي کې زېږېدلي او په قوم بکر خيل ؤ. نوموړي دثور دتوري کودتا څخه وروسته دکمونستانو په مقابل کې په وسله وال جهاد پيل کړی او دجهاد په دوران کې يې د دين او وطن دښمنانوته زيات ځاني او مالي تاوانونه اړولي ؤ بالاخره دغه نوميالي مجاهد په/ ٦۹/۷/۱۰

نيته د ځاځي ميدان ولسوالۍ دزاړه برج په خوا کې د دښمن دمين دچاوديدو له امله دشهادت لوړ مقام ته ورسيد .

(انالله وانااليه راجعون)

شهيد محمد اکبر عثماني

شهيد محمد اکبر دملامحمد زوي په(۱۳٤۲)هـ ش کال دغزني ولايت دقره باغ ولسوالۍ د زرالوده په کلي کي زېږېدلي ؤ، ددينې زده کړو تر څنگ يې د کمونستانو په مقابل کي دهماغه اول وخت څخه وسله وال جهاد پيل کړي او دپکتيا ولايت په اکثرو جگړو کي يې ددين اووطن دښمنانوته زيات ځاني اومالي تاوانونه اړولي و بالاخره دغه زړور مجاهد په ٦۹/۷/۹ نيته دشهادت لوړ مقام ته ورسيد . (انالله وانااليه راجعون)

بسم الله الرحمن الرحيم

نبوي ارشاد

پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایي : الله تعالي په جنت کی سل درجی مقررکړي دي چي دادهغو کسانو دپاره دي چی دخداي په لارکي جهاد کوي دهري درجی په منځ کی فاصله لکه دمځکی اوآسمان فاصله ده.

(رواه مسلم)